# د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله د حدیث تاریخ

لیکوال: علامه عسکری

## سریزه

**خدای پاک فرمایي:**

**لَقَدْ مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُومِنينَ إِذْ بَعَثَ فيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آياتِهِ وَ يُزَكِّيهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتابَ وَ الْحِكْمَةَ وَ إِنْ كانُوا مِنْ قَبْلُ لَفي ضَلالٍ مُبين؛**[۱]

**په رښتیا چې خدای په مؤمنانو ډېر لوي احسان کړے دے چې د دوي تر مینځ یې د دوي له نفسه (جنسه او قومه) پیغمبر راولیږه چې دوي ته د خدای ایتونه لولي او دوي پاکوي او کتاب او حکمت ورته ښیي په داسې حال کښې چې بیشکه له دې وړاندې په ښکاره ګمراهۍ کښې وو.**

**او همدارنګ فرمایي:**

**وَ أَنْزَلْنا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنّاسِ ما نُزِّلَ إِلَيْهِم؛**[۲]

**او تا ته مو دا ذکر (قران) نازل کړے دے چې خلکو هغه څه روښانه بیان کړې هغوي ته نازل کړے شوے دے او ښایي چې دوي غور او فکر وکړي.**

**د بحث په سریزې کښې ضروري ګڼو چې څو مطلبونه بیان کړو او بیا د حدیث او د علم حدیث د خاتم الانبیاء په شریعت کښې ارزښت او د اهلبیتو او د خلفاو په**

---

۱. سوره آل عمران، ۱۶۴آیت.

۲. سوره نحل، ۴۴آیت.

ملکتبونو کښې د حدیث تاریخ په هکله بحث وکړو.
لومړی دا چی اسلام، یو داسې نظام چې خدای پاک، د انسان فطرت سره سم د دې لپاره چې هغه د انسانیت کمال ته ورسوي، شریعت رالیږلے دے او دا شریعت یې له حضرت ادمه تر خاتم الانبیاء صلی الله علیه و اله پورې هر یو پیغمبر ته د هغه ټولنې په هغه وخت کښې د ضرورت او نیاز مطابق نازل کړے دے. مثلا په حضرت ادم علیه السلام یې د ادم صحیفې د څوک کورنو د ضرورت مطابق او په حضرت ادریس علیه السلام یې د هغه مصحف د یوې کوچنۍ ابادۍ مطابق نازل کړ. او همدې ترتیب سره.... د نوح علیه السلام تر وخته چې خلکو په ښاریو کښې ژوند شورو کړ نو شریعت هم د هغه ښار د اوسیدونکیو د ضرورت مطابق نازل شو لکه یو بل سره لین دین چې سود په کښې نه وي، په دې هلکه قران مجید د هغه شریعت په هکله فرمایي:
شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ ما وَصّى بِهِ نُوحاً؛[1]
خدای ستاسو لپاره هماغه قانون مقرر کړ چې نوح ته یې د هغې وصیت کړے و.
البته د پیغمبرانو په شریعتونو کښې څه اختلاف نشته او په یو بل سورت کښې فرمایي:
وَ إِنَّ مِنْ شيعَتِهِ لَاَِبْراهيمَ؛[2]
ابراهیم د نوح د شریعت پیروي کوله.
او مونږ ته فرمایي:
فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْراهيمَ حَنيفاً؛[3]
د ابراهیم د توحیدي دین پیروي وکړئ.
پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله ته هم فرمایي:

---

۱. سوره شوری، ۱۳آیت.
۲. سوره صافات، ۸۳آیت.
۳. سوره آل عمران، ۹۵آیت.

وَ اتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْراهيمَ حَنيفا ؛ [1]
د ابراهيم د توحيدي دين پيروي وکړه.
اسماني شريعتونو په خپلو کښې څه ټکره نه لرله، بلکې د يو بل په تکامل او بشپړتيا کښې وو. د پيغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله په شريعت کښې له دې وروسته چې هغوي د غدير خم په ورځ علی عليه السلام د خدای له خوا خپل ځای ناستې وټاکۀ، دا ايت نازل شو:
الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دينَكُمْ وَ أَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتي وَ رَضيتُ لَكُمُ الْإِسْلامَ دينا [2]
نن مو ستاسو دين کامل کړ؛ او خپل نعمت مو په تاسو تمام کړ، او د اسلام مو ستاسو لپاره (د هميشني) دين په توګه خوښ کړ.
د شريعت د تکامل مثال له حضرت ادمه تر حضرت خاتمه صلی‌الله‌علیه‌وآله، داسې دے لکه د رياضي د علم تکامل چې له اول جماته شورو شي او تر لسم او شپاړسم پورې کامل شي.
التيه په تيرو شريعتونو کښې به ټول شريعت په هماغه اسماني کتاب کښې وو، که د هغه د ادم صحيفې وې که د ادريس او که د موسې عليه السلام تورات وغيره.... وو خو د پيغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله په شريعت کښې په داسې تفصيل سره راغے چې وروسته به بيانيږي.
دويمه: دا چې ټولو شريعت لرونکيو پيغمبرانو، له ځانه وروسته د خپل شريعت لپاره يو وصي او ځای ناستې ټاکلے دے.
د "عقايد اسلام در قران کريم" کتاب په دويم ټوک کښې له حضرت ادمه تر پيغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله پورې د وصيانو لړۍ بيانه شوې ده او ټينګار شوےدے چې يو پيغمبر هم بې له وصي او ځای ناستي نه و.
د ادم وصي، شيث و چې په (هبة الله) مشهور و.

---

۱. سوره نساء، ۱۲۵آيت.
۲. سوره مائده، ۳آيت.

د نوح وصی، سام و.
د موسی وصی، الیسع و.
او د عیسی وصي، شمعون لرلو.
او په دې طریقه ټولو پیغمبرانو وصیان لرلو، البته هغه وصیانو هم د ځان لپاره خپل شریعتونه لري.
دریمه دا چې: تر څوک چې د نبیانو هغه اوصیاء ژوندي وو، هغه شریعت او اسماني کتاب به محفوظ و. خو کله چې به د یو شریعت لرونکي پیغمبر وصي وفاتیدۀ نو هغه شریعت او اسماني کتاب به د هغه امت د زورورو په لاس تحریفیدۀ یا به یې پټاوۀ. هماغه کسانو چې ځان د حضرت موسې بن عمران پیروکار ګڼي، د تورات هغه برخه چې د هغوي د خواهشاتو مخالفه وه یا یې تحریف کړه او یا یې پټه کړه. د عیسی بن مریم شریعت هم همدارنګ و د تهران د اصول دین د پوهنځای په کتابتون کښې د تورات او انجیل هغه نسخه موجوده ده چې د پیغمبر صلی اللهعلیهوآله د ظهور په هکله یې بشارت ورکړے دے او بیا په وروستنیو چاپونو کښې دا خبره تحریف شوې ده.[1]
او همدارنګ د هر شریعت امتونو، بدعتونه، له حده تیریدل او نور مخالف کارونه یې په خپل شریعت کښې زیات کړي دي لکه په قران مجید کښې د یهودو په هکله لولو:
مِنَ الّذینَ هادُوا یُحَرِّفُونَ الْکَلِمَ عَنْ مَواضعه؛[2]
له یهودیانو داسې کسان دي چې د خدای خبرې یې له خپلې اصلي معنې تحریف کړي دي.
او همدارنګ د اهل کتاب په هکله فرمایي:
وَ إِنّ فَریقاً مِنْهُمْ لَیَکْتُمُونَ الْحَقّ وَ هُمْ یَعْلَمُونَ؛[1]

---

١. د بحث په اخر کښې به راشي.
٢. سوره نساء، ۴۶آیت.

او بیشکه چې له دوي یوه ډله حق پټوي، په داسې حال کښې چې په خپله ترې خبر دي.

او د عسایانو په هکله فرمایي:

وَ رَهْبانِيَّةً ابْتَدَعُوها ؛[2]

داسې رهبانیت چې هغوي په خپله بدعت جوړ کړے دے.

او میفرمایي:

لا تَغْلُوا في دينِكُم؛[3]

اے عسایانو! په خپل دین کښې له حده مه تیریږئ.

رهبانیت او غلو (له حده وتل) د حضرت عیسی بن مریم په اصل شریعت کښې نه وو. غلو داسې خبره ده چې لکه هغوي وویل: عیسی د خدای زوې دے.

کله چې یو شریعت سره داسې کیږي، نو د نوي شریعت راتلل لازمي کیږي. هغه شریعت چې موسی بن عمران په تورات کښې راوړے و، د عیسی بن مریم په وخت کښې روغ نه و پاتې. له همدې سببه پاک خدای لازم وګڼل چې یو بل پیغمبر یو نوي شریعت سره راولیږي.

البته په شریعتونو کښې نه یوائې دا چې په خپلو کښې په کښې څه ټکره نه وه بلکې ورو ورو مکمل کیدۀ، خو د پیغمبر له وصي وروسته به شریعتونه تحریفیدل.

د رب العالمین حکمت دا وغوښتل چې د پیغمبر صلی‌اللهعلیهوآله شریعت د تل لپاره پاتې شي، ګني دانسانانو فطرت خو نه بدلیږي. د دې امت زورورو (خلیفه ګانو او حاکمانو او...) طبیعت هماغه د تیرو امتونو د طبیعت په شان شو او بدل شوے نه و. که دوي دا کار کولې شوې چې د خاتم الانبیاء اسماني کتاب بدل

۱. سوره بقره، ۱۴۲آیت.
۲. سوره حدید، ۲۷آیت.
۳. سوره نساء، ۱۷۱آیت.

کړي او څه چې په کښې د دوي د غوښتو سره ټکره لري هغه تحریف یا پټ کړي نو کول یې، او په داسې حال کښې به قران له هغه ارزښته غورځیدلی و چې په کوم باندې مونږ اوس ایمان لرو. هغه قران چې مونږ د هغې په هکله دا عقیده لرو چې ټول د خدای له خوا دے او تر دې چې یو ټکې په کښې هم کم او زیات نه دے شوے له همدې سببه د خاتم الانبیاء امت ته د شریعت رسیدل او د هغې تر اخري وخته پورې له تحریفه خوندي پاتې کیدل له دې سببه دي چې په دوه طریقو سره نازل شوے دے الف) وحی قرآنی؛ ب) وحی بیانی.

تعریف وحی قرآنی و وحی بیانی

وحی قرآنی، هغه وحي ده چې ټول ټکي یې د خدای له خوا دي، او هغه همدا قران کریم دے چې په کښې د اسلامي شریعت ټول اصلونه راغلي دي. لکه په قران کښې راغلي دي:

أَقِمِ الصَّلاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلى غَسَقِ اللَّيْلِ؛[1]

د لمر له زواله تر شپې تیاره کیدو پورې لمونځ قایم کړئ.

او دا خبره چې ټول مسلمانان د سهار لمونځ دوه رکعته، د ماښام لمونځ درې رکعته، د ماسپښین او ماځیګر څلور څلور اود ماښار درې او د ماخښوتن څلور رکعته کوي، دا شمیر یې په قران کښې نه دے راغلے او ټول مسلمانان په دې یوۀ خُله دي، نو دا یې له پیغمبره زده کړي دي ځکه چې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په هکله خدای پاک فرمایي:

وَ ما یَنْطِقُ عَنِ الْهَوی إِنْ هُوَ إِلاّ وَحْيٌ یُوحی؛[2]

دا پیغمبرله خپلې خوا خبرې نه کوي، بلکې څۀ چې وایي هغه هماغه قراني وحي ده چې په هغه نازلیږي.

او همد رنګ په قران کښې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله ته ویل کیږي:

---

۱. سوره اسراء، ۷۸آیت.

۲. سوره نجم، ۴آیت.

وَ أَنْزَلْنا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنّاسِ ما نُزِّلَ إِلَيْهِم؛[۱]

او مونږ قران په تا باندې نازل کړ د دې لپاره چې خلکو ته هغه څه بیان کړې چې هغوي ته نازل شوي دي.

البته نور داسې نور ایتونه هم شته چې مخاطب یې یوازې پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله دے او زمونږ لپاره نه دي. لکه «کهیعص»، «الم» و «حم».

پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله چې څه زمونږ لپاره له دې قرانه او ذکر حکیم نازل شوي دي بیان کړي دي. د هغه حضرت بیان ته، د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله حدیثونه وایي.

دې دویمې وحي ته مونږ «وحی بیانی» وایو چې هماغه لومړۍ وحي چې د قران وحي ده، سره نازلیده لکه د غدیر خم په ورځ له دې سره سم چې دا ایت نازل شو:

يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ ما أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَ إِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَما بَلَّغْتَ رِسالَتَه؛[۲]

اے پیغمبره! کوم څۀ چې درته د خدای له خوا نازل شوي دي خلکو ته ورسوه، او که دا کار ونه کړې نو خپل رسالت دې خلکو ته نه دے رسولے.

وحي بیاني هم ورسره د علی په حق کښې راغلې ده:

يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ ما أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ في عليّ؛[۳]

یعنې: اے پیغمبره کوم څۀ چې تا ته د علی علیه السلام په هکله په تا نازل شوي دي خلکو ته ورسوه.

دې ته په پام، (فی علی)، د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله حدیث دے، چې د اصلي پیدا ایښت یې له هغه وحي بیاني دے چې په پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله شوې وه. همدارنګ د لمانځه د رکعتونو بیان هم همداسې و. او په خپله دا وحي بیاني د خاتم الانبیاء د پیدا ایښت سبب دے، او چې خدای پاک کله وفرمایل:

---

۱. سوره نحل، ۴۴آیت.

۲. سوره مائده، ۶۷آیت.

۳. بحارالانوار، ۳۷ټوک، ۱۵۵او ۱۸۹مخ.

وَ ما يَنْطِقُ عَنِ الْهَوى إِنْ هُوَ إِلاّ وَحْيٌ يُوحى؛[1]

دا پیغمبر له ځانه خبرې نه کوي، بلکه څه چې وایي هغه د خدای پاک وحي ده چې په هغه نازلیږي.

له دې زیاته مزبوته خبره دا ده چې فرمایي:

وَ لَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنا بَعْضَ الْأَقاوِيلِ لَأَخَذْنا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ثُمَّ لَقَطَعْنا مِنْهُ الْوَتِينَ فَما مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ عَنْهُ حاجِزِينَ؛[2]

یعني که زمونږ پیغمبر، له ځانه څۀ ووایي او مونږ ته یې نسبت راکړي، نو مونږ به هغه منعې به یې کړو او د زړه رګه به یې پرې کړو او په تاسو کښې څوک د دې کار مخ نیوې نه شي کولې.

په دې وحي کښې چې کوم بیان په پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله باندې نازلیدۀ، هغه څیزونه چې کوم د غټانو او سیاستمدارانو او خلیفه ګانو لکه معاویه او یزید د غوښتو مخالف وو؛ راغلي دي، لکه په قران کښې راغلي دي:

وَ الشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ؛[3]

او هغه ونه چې په قران کښېورباندې لعنت شوے دے.

نو تفسیرونه ولولئ. د حدیثونو تفسیر لیکوالانو راوړي دي چې ملعونه ونه، بني امیه دي.[4]

او که چرې دا خبره په قران کښې راغلې وې چې بني امیه معلونه ونه ده، نو په هغوي کښې خو یو کس یزید و چې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله لمسي یې شهیدان کړل او لوڼه یې ورله بندیانوې کړې، هغه یزید چې درې ورځې یې مدینه

---

۱. سوره نجم، ۴آیت.

۲. سوره حاقة، ۴۷آیت.

۳. سوره اسراء، ۶۰آیت.

۴. تفسیر الدر المنثور، سیوطی، ۴ټوک، ۱۹۱مخ.

د خپلو سپایانو لپاره مباح کړه چې څه یې زړه غواړي ودې کړي.[۱] او د پیغمبر صلی‌اللهعلیه‌وآله په جمات کښې یې د پیغمبر صلی‌اللهعلیه‌وآله د اصحابو وینې روانې کړې،[۲] هغه یزید چې لښکریان به یې د کعبې په لور ودریدل او لمونځ به یې کاوه او بیا یې کعبه په منجنیق (د هغه وخت په توپو) وویشته[۳] او ویل به یې: اجتمعتِ الطاعةُ و الحُرمةُ و غَلَبتِ الطاعةُ الحرمةَ؛[۴] دلته د کعبې حرمت د خلیفه اطاعت سره ټکره لري او یو ځای نه شي جمع کیدې، نو د خلیفه اطاعت د کعبه له حرمت وړاندې دے نو باید اطاعت وشي.

نو دې ته په پام، که چرې په قران کښې داسې څه موجود وې چې د یزید د حکومت په خلاف وې، نو یزید به هم د تیرشوو زورورو کار کاوه نو داسې حالت کښې بیا قران کښې تحریف او بدلون راتلۀ. د قران د ایتونو سپکاوې به یې کړې و او یا به یې پټ کړې و او قران به له حجیته غورځیدلے و.

خدای پاک فرمایي:

إِنّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ إِنّا لَهُ لَحافِظُون؛[۵]

مونږ قران نازل کړ او مونږ په خپله د هغې حفاظت کوو.

خدای پاک دا اسماني کتاب، چې باید تل تر تله پاتې شي او په خلقو باندې حجت وي، په دې طریقې خوندي وساته چې کوم څه په ښکاره د زورورو او خلیفه ګانو په خلاف وو هغه یې په دې قران کښې رانۀ وړل، بلکې د پیغمبر

---

۱. تاریخ طبری، ۷ټوک، ۱۱مخ؛ ابن اثیر، ۳ټوک، ۴۷مخ؛ ابن کثیر ۸ټوک، ۲۲۰مخ؛ یعقوبی ۲ټوک، ۲۵۱مخ.

۲. تاریخ ابن کثیر، ۲ټوک، ۲۳۴مخ.

۳. منجنیق: هغه وسیله وه چې هغې سره به یې غټې ګولۍ چې له کپړې او کاڼې په جوړې وې او په تیلو په ککړې وې او اور به یې اخستې و د دشمن په لور ویشتلې چې وسوزي او ختم شي.

۴. تاریخ یعقوبی، ۲ټوک، ۲۵۱-۲۵۲مخ.

۵. سوره حجر، ۹آیت.

صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په حدیث کښې امت ته تبلیغ شو.
په سوره تحریم کښې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله دوو ماندینو (عایشه او حفصه)[۱] اشاره شوې ده او فرمایلي یې دي:
إِنْ تَتُوبا إِلَی اللّه فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُکُما وَ إِنْ تَظاهَرا عَلَیْهِ فَإِنَّ اللّهَ هُوَ مَوْلاهُ وَ جِبْرِیلُ وَ صالِحُ الْمُؤْمِنِینَ وَ الْمَلائِکَةُ بَعْدَ ذلِكَ ظَهِیر؛[۲]
" که تاسو دواړه (میرمنې) خدای ته توبه وباسئ (نو ښه ده) ځکه چې ستاسو د دواړو زړونه کاږه شوي دي او که تاسو د هغه په خلاف د یو بل ملاتړ وکړئ نو خدای د هغه ملګرې دے او له هغه وروسته جبرائیل او نیک مومنان او پرښتې یې ملاتړې دي" د «صالح المؤمنین»، مطلب علی بن ابی‌طالب علیه‌السلام دے.[۳]
د دې سورت په اخر کښې خدای پاک د دې کیسې په هکله مثال ورکوي:
قد ضَرَبَ اللّهُ مَثَلاً للّذینَ کَفَرُوا امْرَأَتَ نُوحٍ وَ امْرَأَتَ لُوطٍ کانَتا تَحْتَ عَبْدَیْنِ مِنْ عِبادِنا صالِحَیْنِ فَخانَتاهُما فَلَمْ یُغْنِیا عَنْهُما مِنَ اللّهِ شَیْئاً؛[۴]
خدای د هغو کسانو لپاره چې کافران شوي دي د نوح د ښځې او د لوط د ښځې مثال راوړے دے چې هغوي دواړه زمونږ د دوه نیکو بندګانو (د حکم) لاندې وې نو هغوي سره یې خیانت وکړ.[۵]

---

۱. تفسیر طبری، ۲۸ټوک، ۱۰۴ـ ۱۰۵مخ؛ صحیح بخاری، ۳ټوک، ۱۳۷ او ۱۳۸مخ او ۴ټوک، ۲۲مخ؛ صحیح مسلم، کتاب الطلاق، ۲ټوک، ۱۱۰۸ ـ ۱۱۱۱مخونه، ۳۱ ـ ۳۴حدیث؛ مسند احمد، ۱ټوک، ۴۸مخ.
۲. سوره تحریم، ۴آیت.
۳. تفسیر الدر المنثور، سیوطی، ۲ټوک، ۲۴۴مخ.
۴. سوره تحریم، ۱۰آیت.
۵. د هغه دوو ښځو خیانت دا و چې هغوي د پیغمبرانو رازونه ونه ساتل او د کافرانو لپاره یې جاسوسي وکړه، خدای د هغوي دا کار غندلے دے او د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د دغو

نو د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله دې دواړو ماندينوعايشه او حفصه، د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په کور کښې څه کړي وو چې دومره زورور ايت نازل شو؟ د السقيفه په کتاب کښې د دې کيسه راغلې ده.[۱]

دا معلوميږي چې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په کور کښې څه نه څۀ خبرې وې؛ او ايا د عقبه په پيښه کښې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله اوښ ويرول دې کيسې سره تړلي دي؟

ابن حزم چې د خليفه ګانو د مذهب له لويانو دے په خپل کتاب المحلی[۲] کښې له هغه کسانو دے چې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د اوښ ويرولو په کيسه کښې د ابو بکر، عمر او عثمان نومونه اخلي.

داسې کيسې په حديثونو کښې راغلي دي او په قران کښې نه دي بيان شوې د دې لپاره چې قران مجيد خوندي پاتې شي. هغه کيسې چې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په زمانه کښې يې که هغه په قران کښې راغلې وې نو قران به يې روغ نه و پريښې.

نو خدای پاک قران مجيد په دې طريقه خوندي وساته چې د خاتم الانبياء شريعت يې (زما له قوله) په دو وحيو سره نازل کړ: الف) وحی قرآنی؛ ب)وحی بيانی. او دا دواړه وحي د خدای پاک له خوا راغلي دي.

اوس دې بيان سره، د ځينې حديثونو په معنو هم پوهيدې شو چې مثلا د علی عليه السلام نامه چې په وحي کښې وه هغه څه وه لکه دې ايت کښې «يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ ما أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ـ فی علی ـ وَ إِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَما بَلَّغْتَ رِسالَتَهُ وَ اللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النّاس »، د «فی علی» عبارت د خدای له خوا په وحي بياني سره

---

دوو ښځو عمل يې د هغو دوو د عمل په شان ګڼلے دے او د هغو مثال يې دې سره ورکړے دے.

۱. سقيفه کتاب له همدې ليکوال چې خپور شوے دے.

۲. المحلی ۱۱ټوک، ۲۲۴مخ.

راغلے دے.

مرحوم حاجی نوری یو کتاب د فصل الخطاب فی تحریف کتاب رب الأرباب په نامه لیکلے دے. او احسان الهی ظهیرهم نو کتاب د الشیعه و القرآن په نامه لیکلے دے.

حاجي نوري له لومړي سپرکي تر لسم څپرکي پورې په خپل کتاب کښې هغه روایتونه چې د خلیفه ګانو په مذهب کښې راغلي دي چې دا مقصد ترې اخستې شي چې قران تحریف شوے دے راړوي دي او په یوولسم او دولسم څپرکي کښې یې همدارنګ روایتونه د شیعه و له کتابونو راوړي دي.

احسان الهی ظهیر په خپل کتاب الشیعه و القرآن، کښې یوائې هغه روایتونه چې د شیعو په کتابونو کښې راوړي دي، او هغه روایتونه یې پرېښې دي چې د خلیفه ګانو د مذهب په کتابونو کښې دي، تر ننه پورې په پاکستان کښې د شیعو د وژلو له ټولو غټ سبب همدا دوه کتابونه دي چې‌د دې هیواد وهابیانو همدا دوه کتابونه بهانه کړي دي.

ما د احسان الهی ظهیر او حاجی نوری په ځواب کښې درې ټوکه کتاب لیکلےدے:

لومړې ټوک یې د بحوث تمهیدیة په نوم دے، او په هغې کښې د قراني اصطلاحاتو بیان دے. چې نن سبا هغه اصطلاحات زمونږ له لاسه وتي دي او تر څو چې په هغه اصطلاحاتو پوه نه شو نو په روایتونو کښې چې کوم اصطلاحات دي په هغې نه پوهیږو.

په دویم ټوک کښې یې هغه ټول حدیثونه چې د خلیفه ګانو په مذهب کښې د قران د تحریف په هکله راغلي دي، په اتۀ سوه مخونو کښې څیړل شوي او ځواب یې ورکړے شوے دے.

او په دریم جلد کښې یې، القرآن الکریم و روایات مدرسة أهل البیت علیهم‌السلام دے چې په کښې هغه ټول روایتونه چې حاجي نوري د اهلبیتو په

مذهب کښې بيان شوي راوړي دي او هغې سره يې د قران د تحريف لپاره دليل راوړے دے چې خداى دې نه کړي قران يا زيات شوے يا کم شوے دے، د متن او سند له مخې څيړل شوي دي او د خداى پاک په فضل سره دا ثابته شوې ده چې هر يو حديث څه اشکال لري او د حديث د متن مطلب څه دے.

په هغه بحثونو کښې دا معلوميږي چې ځينې مشکلات له دې سببه دي چې د قران او روايتونو په اصطلاحاتو باندې صحيح نه يو پوه شوي او ځينې يې د حديث د سند له مخې دي.

نو دې ته په پام، د اسلام شريعت دوو وحيو سره نازليدۀ: قرآنى وحى او بيانى وحى چې بې له وحي بياني يواځې وحي قراني سره مونږ د اسلامي شريعت (لکه لمونځ، روژه، حج) ته نه شو رسيدې. او د خاتم الانبياء د شريعت نورو شريعتونو سره همدا لوى فرق دے. ځکه چې په نورو شريعتونو کښې، د هغوي ټول شريعت د هغوي په اسماني کتابونو کښې و (او کتابونو يې تحريف شوي وو) خو په اسلامي شريعت کښې – له دې سببه چې دا شريعت د تل لپاره پاتې کيدونکے دے - د شريعت اصول او بنيادي خبرې په اسماني کتاب او قراني وحي کښې راغلي دي او د هغې شرح، تفصيل او بيان د پيغمبر صلى الله‌عليه‌وآله په حديثونو کښې راغلي دي چې ورته وحي بياني ويلي شي.

## د پيغمبر(ص) په حديث څه تير شول

اوس بايد دا خبره وڅيړو چې د پيغمبر صلى الله‌عليه‌وآله حديثونو سره څه وشول، ايا هماغه کار ورسره وشو چې کوم د تيرو امتونو زورورو د خپل وخت اسماني کتاب سره کاوۀ؟

په دې امت کښې، زورور (يعنى هغه خليفه گان چې د پيغمبر صلى الله‌عليه‌وآله حديثونه د هغوي د غوښتو مطابق نهوو لکه معاويه او يزيد)، هغوي د پيغمبر صلى الله‌عليه‌وآله حديثونه په عمل کښې ونه زغم شو او هغو سره مقابله نه

ودريدل.

که مونږ دا وغواړو چې د دې ټولو خبرو سرچينې راوړو نو څو کتابونه ليکل ضروري دي.[۱] نو ښه دا ده چې يو څو ځايونه ترې بيان کړو.

په مسند احمد او سنن دارمي کښې او داسې په نورو کتابونو کښې، له عبدالله بن عمر بن عاصه روايت شوي دي چې ويې ويل: قريشو (يعني مهاجرانو) ماته وويل:

تَکْتُبُ کلّ ما تَسْمَعُهُ من رسول اللّه و رسولُ اللّه بَشَرٌ يَتَکلّمُ في الغضب و الرضا؟...؛[۲]

ايا تاسو چې له پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله هر څه اورئ، هغه ليکئ؟ په داسې حال کښې چې پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله د ټولو انسانانو په شان يو انسان دے، او د رضا يا غصې په حالت کښې خبرې کوي؟...

يعنې د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله په يو ځای کښې ابوذر خوښ شوے و وايي:

ما أظلّت الخضراءُ و لا أقلّت الغبراءُ من ذي لهجةٍ أصدق من أبيذر؛[۳]

اسمان سيورې نه دے او ځمکې په ځان نه دے ساتلے داسې کس چې له ابوذره زيات رينښتونې وي.

په بل ځای کښې يې عمار خوښ شوے دے او فرمايي:

عَمّارٌ مَعَ الْحَقِ؛[۴]

عمار تل حقو سره دے.

په يوې بلې کيسې کښې د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله حکم بن ابی العاص نه دے

---

۱. په دې هکله د همدې ليکوال هغه کتابونو ته چې د أم‌المؤمنين عائشه د حديثونو په هکله په دوو ټوکو کښې او د عبداللّه بن سبا په هکله په دوو ټوکو کښې، او همدارنګ يو سل پنځوس جوړ کړې شوي اصحاب چې په دريو ټوکو کښې ليکل شوے دے مراجعه وکړئ.

۲. سنن أبی‌داود، ۲ټوک، ۱۷۲مخ؛ مستدرك الحاكم، ۱ټوک، ۱۰۲مخ.

۳. مسند احمد، ۵ټوک، ۱۹۷مخ؛ مستدرك الحاكم، ۳ټوک، ۳۴۲ او ۳۴۴مخ.

۴. کنزالعمال، ۱۳ټوک، ۵۳۹مخ.

خوښ شوے او وربانديِ يېِ لعنت کړے دے نو دا څه کار دے چې تاسو يې توليِ خبريِ ليکئ؟

نو دې ته په پام قريشو به د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله په وخت کښې اصحاب د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله د حديثونو له ليکلو منعې کول.[۱]

عبداللّه بن عمرو بن عاص وايي: د قريشو دا اعتراض مې پيغمبر صلیاللهعلیهوآله ته نقل کړ نو ويې فرمايل:

أُكْتُبْ، فَوَالّذي نَفْسِي بِيَدِه ما خَرَجَ مِنْ فِيّ إلاّ حَقٌ؛[۲]

ويې ليکئ! قسم په خدای زما په خُلې بې له حقه بل څه نه راوځي.

نو د حديثونو خپريدل د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله له وخته منعه شول.

ب) پيغمبر صلیاللهعلیهوآله چې کله وفات کيده او بيمار و نو ويې ويل:

آتُوني بِدَوَاةٍ و قِرْطاسٍ أَكْتُبُ لكم كتابا لن تَضِلُّوا بَعْدَهُ؛[۳]

ماته دوات او کاغذ راوړئ چې تاسو ته داسې وصيت وليکم چې له ما وروسته ګمراه نه شئ.

په رښتيا چې دا عجيبه ده. يو پيغمبر صلیاللهعلیهوآله سره هم داسې نه دي شوي. عمر په هغه ځای کښې داسې غږ وکړ چې تر ۱۳۳ کالو پورې پاتې شو.[۴] هغه وويل: «حَسْبُنا كتابُ اللّه؛[۵] د خدای کتاب مونږ له بس دے.»

د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله له دې غوښتې وروسته، د اصحابو تر مينځ شور شو،

---

۱. د لا زياتې خبرتيا لپاره وګورئ: علوم حديث، ۵شمېره، ۸مخ، د «منع تدوين حديث» مقاله، محمد علی مهدوی راد.

۲. سنن ابیداود، ۲ټوک، ۱۷۲مخ؛ مستدرك الحاكم، ۱ټوک، ۱۰۲مخ.

۳. صحيح مسلم، ۵ټوک، ۷۲مخ؛ صحيح البخاری، ۱ټوک، ۵۴مخ؛ مسند احمد، ۱ټوک، ۳۵۵مخ.

۴. تر دې چې په ۱۴۳ هجری کال کښې د ابوجعفر منصور په حکم، د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله د حديث ليکل شورو شول.

۵. صحيح بخاری، ۷ټوک، ۹مخ.

غوښتل یې چې لاړ شي او قلم او دوات راوړي، عمر ولیدل چې اوس یې راوړي او پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله‌ چې څۀ غواړي هغه لیکل کېږي نو ویې ویل: «إنّ الرّجُلَ لَیَهْجُرُ؛[1] دا سړے (پیغمبر) ګډې وډې وایي.»
دا په خپله د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله حدیث سره یو جنګ دے!
په اصحابو کښې ځینې حاضرو کسانو وویل: لاړ شو او رابه وړو، پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله وفرمایل: «أ وَ بَعْدَ ماذا؟... نو له دې وروسته به څۀ شي؟»
څوک چې د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله په مخکښې دا ووایي: "هغه ګډې وډې وایي" - توبه نعوذ بالله - له پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله وروسته دا کولې شي چې درې څلور کسان شاهدان د خپلې بدې خبرې د ثابتولو لپاره راوړي.
په صحیح بخاري کښې راغلي دي:
«حسبنا کتاب اللّه» ځینې اصحابو وغوښتل چې کاغذ او قلم راوړي او وصیت نامه ولیکل شي، دلته یې وویل: په حاضرو کښې یو کس وویل: «إِنّ الرّجُلَ لیُهجِر» او دا خو معلومه ده چې کوم کس د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله د وصیت لیکلو مخالف و هم هغه دا خبره کړې ده او هغه بې له عمره بل څوک نه و! چې دا ګواهي ورکړي چې د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله خبرې د زنکدن په حالت کښې وې او ګډې وډې یې ویلې او داسې څه یې نه دي ویلي او نه یې لیکلي دي له همدې سببه و چې پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله وفرمایل:
قُومُوا عَنّي، لا یَنْبَغي عند نبيّ تَنازُعٌ؛[2]
پاڅئ او له ما لاړ شئ چې دا نه ښایي چې د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله په خوا

---

۱. با تفاوتهایی در الفاظ: صحیح بخاری، ۴ټوک، ۳۱مخ؛ صحیح مسلم، ۲ټوک، ۱۲مخ؛ مسند احمد، ۱ټوک، ۳۵۵مخ؛ تاریخ الطبری، ۳ټوک، ۱۹۳مخ؛ کامل ابن الاثیر، ۲ټوک، ۳۲۰مخ.
۲. صحیح بخاری، د جوائز الوفد من کتاب الجهاد باب، ۲ټوک، ۱۲۰مخ او همدارنګ ۲ټوک، ۱۳۲مخ؛ صحیح مسلم، ۵ټوک، ۷۵مخ؛ مسند احمد، تحقیق احمد شاکر، ۱۹۵حدیث؛ طبقات ابن سعد، ۲ټوک، ۲۴۴مخ، د بیروت چاپ؛ طبری، ۳ټوک، ۱۹۳مخ.

کښې جګړه وکړئ.
په حقیت کښې ذهبي ښه فیصله کوي چې په خپل کتاب تذکرة الحفاظ کښې د ابوبکر د حالاتو په بیان کښې له دې وروسته چې ابوبکر سره بیعت وشو وایي:
لا تُحَدّثوا عن رسول اللّه، و إذا سُئِلْتم عنه، قُولُوا بَینَنا و بَینَکم کتابُ اللّه، أحِلُو ما أحَلّهُ و حَرّمُوا ما حَرّمَه؛[۱]
له پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیث مهٔ روایت کوئ که له تاسو هر څه پوښتنه وشي وایئ زمونږ او ستاسو تر مینځ د خدای کتاب شته هر څه چې یې هلال کړي دي هغه حلال وګڼئ او هر څه چې یې حرام کړي دي حرام یې وګڼئ.
دا د خلیفه ګانو د مذهب سیاست دے، بې له دې یې بله لاره نه وه ځکه چې که د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیثونه موجود وې نو هغوي بیا خلافت ته نه شو رسیدې. نو نتیجه یې دا شوه چې د حدیثونو مخه ونیسي.
هغه خبره چې باید پټه پاتې نه شي هغه دا ده چې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله باندې به چې کوم یو ایت نازلیدهٔ نو چاته چې به یې د هغې تبلیغ کاوهٔ نو خپل بیان چې د خدای له خوا به هغه ته رسیدلې هغه به یې هم ورسره بیانوهٔ او په دې طریقه به یې تبلیغ مکمل کوهٔ. د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله تبلیغ نیمګړې نه و، که چرې هغه فرمایلے: «أقِمِ الصّلاةَ لِدلُوكِ الشّمْسِ؛[۲] د لمر د زوال په وخت لمونځ قایم کړئ.» او دا خبره وحي قراني سره راغلې وه نو دې سره سم به ورته جبرائیل دا ویل چې لمونځ په څهٔ طریقه قایم کړي. دا خبره هغه مهمه خبره ده چې د حدیث په پیژندګلو کښې ډېرمشکلات حل کوي.
ابن مسعود وایي: «د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله له خُلې مې اویا سورتونه زده کړل.»[۳] مثلا کله چې به ایت نازل شو چې: وَ الشَجَرَةُ المَلْعُونَةَ، نو پیغمبر

---

۱. تذکرة الحفاظ، ۱ټوک، ۵مخ.
۲. سوره اسراء، ۷۸آیت.
۳. مصاحف ابن ابی‌داود، ۱ټوک، ۱۵مخ.

صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله به هغه ته فرمايل چې له دې مراد بني اميه دي.
په دې طريقه د اصحابو د قران کتابونه سره د هغه بيانونو چې له پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله يې د قران په تفسير کښې د هر ايت په هکله اوريدلي وو ليکي وو.
ابن مسعود، چې د ايتونو په بيان کښې له پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله څۀ د ايتونو په بيان کښې اوريدلي وو ليکلي وو او بل صحابي هم چې څه د بل سورت په هلکه اوريدلي وو ليکي وو.
په مسند احمد کښې راغلي دي چې پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله په جمات کښې کان يُعَلِّمُنا عَشْرَ آيات، عَشْرَ آيات؛ لس ايتونه مونږ ته رازده کړل لا نَتَعَدّاها حتّی نَعْلَمَ ما فيها مِنَ العِلْم و العمل؛[۱] له هغه لسو ايتونو به نه تيريدو تر دې چې د هغه ايتونو علم او عمل په ښه طريقه زده کړو. مثلا که د پيغمبرانو کيسې په کښې نقل شوې وې د هغه پيغمبر کيسه به يې کوله؛ او که ايت د قيامت په هکله وې، نو دا به يې بيانول چې د قيامت ورځ به څګه وي، که د حکمونو په هکله ايت وې لکه لمونځ، اودس، تيمم، نو هغه عمل به يې مونږ ته ښودۀ. نو پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله د قران يو ايت هم خلکو ته نه دے بيان کړے مګر دا چې وحي بياني ورسره وه. وحي بياني هماغه د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله حديثونه دي چې دې امت ته بيان شوي دي، دا بياني وحي د خليفه ګانو سياستونو سره مخالفې وې. د بيلګې په توګه، د «يا أَيُّهَا الّذينَ آمَنُوا لا تَرْفَعُوا أَصْواتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ؛ اے مومنانو خپل اوازونه د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله له اوازه مه اوچتوئ»، په صحيح بخاري کښې راغلي دي چې دا خبرې د ابوبکر او عمر په

۱. مسند احمد، ټوک ۵، مخ ۴۱۰؛ تفسير الطبری، ۱ټوک، ۲۷مخ؛ کنزالعمال، ۲ټوک، ۳۴۲مخ؛ بحارالانوار، ۹۲ټوک، ۱۰۲مخ. برای اطلاع بيشتر، ر.ك: القرآن الكريم و روايات المدرستين، السيد مرتضى العسكری، شركة التوحيد للنشر، تهران، ۱ټوک، ۱۵۷مخ.

هکله وې.[۱]

نو دا خبره د خلیفه ګانو سیاست سره سمون نه لري؛ او داسې بیلګې ډېر زیاتې دي یو دوه نه دي.

د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په وخت کښې دوه ډوله قراني لیکل وو: یو هغه څهٔ چې اصحابو چې په خپله څه اوریدل – قران او تفسیر – په خپل اختیار سره لیکل او دویم هغه څهٔ چې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله یې حکم کاوهٔ هغه به یې لیکل. نو په دې طریقه کوم څه چې په پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله نازلیدل نو پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله به چې کوم یو صحابي ورته نزدې وې هغه به یې راغوښته او هغوي به هغه وحي قراني او وحي بیاني په هر هغه څه لیکله چې ورته نزدې وې لکه: تختته، کاغذ، څرمن او هډوکې وغیره.

ما په تاریخ کښې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د وحي ۲۹ لیکوالان لیدلي دي؛[۲] نه دا چې هغه کاتبان وحي وي چې هر یو د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله خاص کاتب وحي وي، داسې نه ځکه چې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله خاص کاتب بې له علی علیه السلام بل څو نه و. بلکې دا هغه کسان وو چې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله به دوي د وحي لیکلو لپاره راغوښتل و په هغوي کښې چې څوک هم موجود وې هغوي به د خدای د رسول خبرې لیکلې.

الهي وحي به کله په کاغذ لیکل کیده، کله په پوستکي او کله کله به د بیزې، غوا یا اوښ د پنډې په هډوکي.

دا لیکل د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په کور کښېوو. پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله علي علیه السلام ته وصیت وکړ چې کله زما له کفن او دفن نه خلاص شي نو دا

---

۱. صحیح بخاری، طبع البُغا، ۴ټوک، ۴۱۰۹ حدیث، ۲ټوک، ۲۸۷۲حدیث، د دې سورت په شان نزول کښې سوره حجرات، ۲آیت.

۲. عیون الاثر، ۲ټوک، ۱۹۱مخ.

ټول سره جمع کړه.[۱]
د هغوي جمع کول په دې طریقه وو چې علی علیه السلام به هغه تختې یا څرمنې سورې کولې او په هغو کښې به یې تار اچوۀ. هغوي دا کار د شورو له ورځې شورو کړ (ځکه چې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د کفن دفن کار د شورو تر شپې پورې و) او د جمعې تر ورځې یې خلاص کړ. بیا یې د قنبر په مرسته یې هغه قران چې په کښې ټوله بیاني وحي وه د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله جمات ته یوړه.
نو د داسې وحي په موجودګۍ کښې بیا دا امکان نه و چې ابوبکر او عمر او عثمان او معاویه او یزید خلیفه ګان شي.
نو خلیفه ګان د امیرالمؤمنین علي علیه السلام مخې ته ودریدل او ویې ویل: "مونږ ستا راټول کړي قران ته څه حاجت نه لرو، مونږ سره قران شته".
او دا خبره یې رښتیا وه ځکه چې هغوي سره هغه قران و چې بیاني وحي په کښې نه وه. علي علیه السلام وفرمایل: "له دې پس به دا قران ونه وینئ"[۲]
او هغه قران چې ورسره وحي بیاني هم وه اوس دولسم امام حجت بن الحسن(عج) سره دے. او دا هماغه کتاب دے چې په حدیثونو کښې راغلي دي کله هغه حضرت ظهور وکړي نو د هغه اصحاب چې ایرانیان دي د کوفې په جمات کښې به یې درس ورکوي (البته دا خبره دې پټه نه وي چې د شیخ طوسي له وخته تر اوسه پورې د نجف عالمان او فقیهان ایرانیان وو) او هغه نوې کتاب چې زمونږ د روایتونو مطابق به یې هغه حضرت (عج) راوړي هغه همدغه قران دے.
اوس باید وګورو چې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیثونو سره یې څه وکړل. ابوبکر حکم وکړ چې قران دې بې له وحي بیاني راجمع شي. دا راټولیدل د

---

۱. بحارالانوار، ۹۲ټوک، ۴۸ او ۵۲مخ، د قمي د تفسیر په نقل، ۷۴۵مخ؛ عمدة القاری، ۲۰ټوک، ۱۲مخ؛ فتح الباری، ۱۰ټوک، ۳۸۲مخ؛ مناقب ابن شهر آشوب ۲ټوک، ۴۱مخ؛ الاتقان للسیوطی، ۱ټوک، ۵۹مخ.
۲. تفسیر الشهرستانی، المقدمة، الورقة، ۱۵ مخ.

ابوبکر په وخت کښې شورو شو او د عمر په وخت کښې پای ته ورسیدل، عمر هغه قران حفصې سره کېښود[۱] او د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حدیث په منع کولو یې شورو وکړه.

**عمر د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیث سره څه وکړل؟**

اول: د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حدیث نقلول یې منع کړل، د مثال په توګه درې اصحاب ې نامې یې عبدالله بن مسعود، ابودرداء او ابو مسعود انصاري وې، چې د خلیفه د خوښې په خلاف یې حدیثونه نقلول هغوي یې مدینې ته راوغوښتل او له دې ښاره یې د هغوي وتل منع کړل او د خپل عمر تر ختمیدو یې ورته اجازت ورنه کړ چې له مدینه وځي.[۲]

د سنن ابن ماجه په سریزې کښې راغلي دي:

قرظة[۳] بن کعب وایي: عمر، زۀ د حکومتي کارګر په توګه په کوفه کښې وګمارلم او د مونږ سره د مدینې تر وتلو پورې یې بدرګه کړه. ویې ویل: "په دې خبرې پوه شوئ چې ما تا سو سره ولې بدرګه وکړه؟" ومو ویل: "د دې لپاره چې مونږ د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله اصحاب یو" ویې ویل: «و إنَّ مَعَ ذلك لَحاجةً إنّکُم تأتونَ

۱. المصاحف، ۱ټوک، ۹مخ؛ کنزالعمال، ۲ټوک، ۲۲۳-۳۲۲مخ؛ منتخب الکنز، بهامش مسند احمد، ۲ټوک، ۴۴مخ؛ فتح الباری، ۱۰ټوک، ۳۹۰مخ.

۲. تذکرة الحفاظ ذهبی، ۱ټوک، ۷مخ؛ شرف اصحاب الحدیث خطیب بغدادی، ۸۷مخ؛ تاریخ ابن عساکر، د سکینه الشهابی تحقیق، ۳۱ټوک، ۲۸۰مخ.

۳. قرظه بن کعب الانصاری خزرجی، د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله له اصحابو دے چې په غزوه احد کښې او نورو غزوو کښې یې هغوي سره ګډون کړے و، هغه په هغه لسو کسانو دے چې عمر د خپل خلافت په وخت کښې عمار یاسر سره سم هغه کوفې ته ولیږ او د ری په فتح کښې چې په ۲۳ هجری کښې ترسره شوه هغه شامل و او امیرالمؤمنین علی بن ابی‌طالب علیه‌السلام کله چې د جمل په جنګ کښې له کوفې بصرې ته روان شو، قرظه یې د کوفې والي جوړ کړ او اخر دا چې د امیر المؤمنین علیه السلام د خلافت ختمیدو سره هغه هم له دنیا لاړ. دا مطلب په اسد الغابه، ۴ټوک، ۲۰۳مخ کښې راغلے دے.

**أهلَ قَرْيَةٍ، لَهُمْ دَوِيٌّ بالقرآن كَدَوِيِّ النّحل لا تَشغَلُوهم بحديثِ رَسُولِ اللّه؛**[۱] **بې له دي يو بل غرض هم لرم او هغه دا چې تاسو د اسې ښار ته روان يئ چې د هغه ځای خلک قران ډېر په شوق سره لولي نو هغوي د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حديث په نقلولو مشغول نه کړئ".**

**ليکلي شوي دي چې له قرظه به چې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حديث په هکله پوښتنه کيده نو ويل به يې: "عمر مونږ منعې کړي يو"**[۲]

**دا عمر دا منعې کول (چې ما د معالم المدرستين له لومړي او دويم ټوک کښې د دې په هکله خبرې کړي دي دا په تاريخ طبري کښې د عمر د ژوند په بيان کښې هم راغلي دي) دې دې حده پورې ورسيدل چې ابا حصين وايي: عمر چې به څوک هم د والي په توګه يو ځای ته ليږۀ، نو هغه سره له مدينه تر بهره تلۀ او هغه ته به يې دا سپارښتنه کوله چې دا سې نه وي چې له پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حديث روايت کړي او ويل به يې چې زۀ دا سره د دې کار په ثواب کښې شريک يم!**[۳] **(يعنې دا يې ثواب ګڼه چې حديث منعې کړي).**

**دويمه: د قران له تفسير له پوښتنه کولو منعه کول**

**عمر په مدينه کښې يواځې يو څو کسانو ته اجازت ورکړ چې هغوي روايتونه نقل کړي، او هغه دا کسان وو:**

**۱. أم‌المؤمنين عايشه**[۴]

---

۱. سنن ابن ماجه، المقدمة، باب التوقی فی الحديث عن رسول اللّه صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله، ۱ټوک، ۱۲مخ.

۲. مستدرك الحاكم، ۱ټوک، ۱۰۲مخ.

۳. تاريخ طبری، طبع اروپا، **۵**ټوک، **۲۷۴۱**مخ.

**۴**. طبقات ابن سعد، ۸ټوک، **۳۷۵**مخ. همدارنګ وګورئ د أم‌المؤمنين عائشه د حديثونو کتاب دويم ټوک چې ما په اول کښې دا ثابته کړې ده چې د اسلام په تاريخ په پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله پورې دومره دروغ چا نه دي تړلي لکه څومره چې هغې تړلي دي او د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په هکله دومره له ځانه بې واقعيته خبرې چا نه دي کړي او له بده مرغه بې د

۲. کعب الأحبار یهودی: کعب الأحبار هماغه کس دے چې کله بیت المقدس فتح شو نو له یمنه مدینې ته راغے اود اسلام څرګندونه یې وکړه او غوښتل یې چې بیت المقدس ته لاړ شي خو عمر هغه په مدینې کښې هیسار کړ او د خلافت په دربار کښې رسمي ویندویې شو.[1]

---

اهلبیتو د مذهب له لارویانو نور ټول مسلمانان د پیغمبر صلی‌اللهعلیه‌وآله سیرت د عایشې له حدیثونو اخلي.

۱. أبواسحاق کعب بن ماتع چې لقب یې کعب الأحبار یا کعب الحبر دے، په اصل کښې یهودي و او د یهودیانو له لویو عالمانو ګڼل کیدۀ. ابن سعد په خپل کتاب کښې په ۷ټوک، ۲ق، ۱۵۲مخ وایي: هغه په لومړیو کښې په یمن کښې و او د ابوبکر په وخت کښې یې اسلام قبول کړ. د عمر د خلافت په وخت کښې مدینې ته راغے چې له هغه ځایه بیت المقدس ته لاړ شي او هلته هستوګن شي. خو عمر ورباندې ټینګار وکړ او په مدینه کښې پاتې شو. هغه به تل تورات د خدای د کتاب په نامه یادوۀ، که څه هم په هغه وخت کښې د قران د څرګند ایت (سوره بقره، آیت ۷۵، ۱۵۹) تورات تحریف شوې و او یو خالص اسماني کتاب نه و. د عثمان په وخت کښې چې کله د حکومت کارونه بدل شول کعب له مدینې شام ته لاړ او معاویه سره شو.

د کعب الأحبار ټوله هڅه دا وه چې د یهودیانو روایتونه په مسلمانانو کښې خپاره کړي او له بده مرغه په دې کار کښې بریالے شو او د اهل کتابو او د بیت المقدس د قبلې په ستاینې کښې د هغه روایتونه او همدارنګ د قران د ایتونو په تفسیر کښې د هغه روایتونه د تفسیر، تاریخ او حدیث په کتابونو کښې لکه تفسیر طبري، تفسیر الدرالمنثور سیوطی، تفسیر قرطبی، تاریخ ابن کثیر او داسې نورو کښې راغلل.

کعب ځینې شاګردان هم تربیت کړل چې د یهودیت په خپرولو کښې د هغه مرسته وکړي لکه عبدالله بن عمرو بن عاص او أبوهریره دَوْسی او داسې نور. عمر او عثمان او معاویه د کعب د کتابونو په خپرولو کښې ډېر کوشش وکړ او په همدې غرض به یې تل په مدینه کښې له هغه د خلقت د شورو او قیامت او د قران د تفسیر په هکله پوښتنې کولې.

اخر دا چې کعب په ۳۵ هجری کال کښې د ۱۰۴ کالو په عمر کښې په شام کښې وفات شو. د کعب په هکله د لا زیاتې خبرتیا لپاره وګورئ: نقش ائمه در احیاء دین، ۲ټوک، ۱۰۳-۱۲۲مخ.

**۳. تمیم داری: تمیم داری هغه کس دے چې د عسایانو له راهبانو و، هغه د جمعه له لمناځه وړاندې رسمي وینا وال شو.**[۱]

۱. أبو رقية تميم بن أوس بن خارجة الداری، په اصل کښې نصراني و، د هجرت په نهم کال مدینې ته راغے او مسلمان شو. صحیح مسلم، ۸ټوک، ۲۰۴مخ د فلسطین یو راهب او هغه ځای د خلکو عابد و. (الاصابة فی تمییز الصحابة، ۱ټوک، ۱۸۲مخ، د ترجمې شمېره ۸۲۷) او د تورات او انجیل له عالمانو ګڼل کېدۀ. (تهذیب التهذیب، ۱ټوک، ۵۱۱ مخ لومړی چاپ حیدرآباد) د صحیح بخاري روایت ته په پام (کتاب الوصایا، ۴ ټوک، ۱۳ او ۱۴مخونه، د عبدالحمید چاپ) د تمیم د مسلمانیدو سبب دا و چې عدی بن بداء او مردي چې له بني سهم قبیلې وو، سره په یو تجارتي سفر کښې یو ځای کېږي په لاره کښې یو کس مړېږي چې د دې دواړو شریک وي او خپله برخه دې دواړو ته پرېږدي چې د هغه کورنۍ ته یې ورکړي او خپل مال له هغو دواړو بې خبره د قافلې مال سره ګډ پرېږدي او دا دواړه خیانت کوي او د خپل هغه شریک ښه مال چې یو ترې هغه جام وي چې د سپینو زرو کار ورباندې شوے وي او قیمت یې درې سوه مثقاله سره زر وي هغه د ځان لپاره اخلي او کله چې د هغه سړي وارثان خبرېږي نو دا دواړه په دروغو د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په وړاندې قسم خوري چې له دې خبرې بې خبره ده. او اخر دا چې حقیقت ځرګندېږي او د سوره مائده ۱۰۲ و ۱۰۷ایتونه د تمیم داري او عدی بن بداء په ملامتیا کښې نازلیږي او هغوي په خپل خیانت باندې اعتراف کوي. په دې وخت کښې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حکم وکړ چې هغه دوه باید پیسې او هغه جام د هغه شریک وارثانو ته ورکړي. بیا یې تمیم ته وفرمایل: "وای دې وي په تا باندې اے تمیمه! مسلمان شه چې خدای له تا تېر شي" او په دې طریقه تمیم مسلمانیږي.
د عمر د خلافت په وخت کښې، تمیم باندې عمر خاص رحم وکړ عمر هغه ته «خیر أهل المدینة؛ د مدینه په خلکو کښې غوره» لقب ورکړ. (الاصابة، ۳ټوک، ۴۷۳مخ، ۱۳۵۸ چاپ قاهره) او «له ټولو غوره مومن» (سیر أعلام النبلاء، ۲ټوک، ۴۴۲مخ، بیروت ۱۴۰۱ چاپ).
او هغه ته یې دا ماموریت ورکړ چې د جمعې په ورځ د ویناوال په توګه د جمعې له خطبې وړاندې د عامو مسلمانو لپاره خبرې او وینا وکړي.
د عثمان د حکومت په وخت کښې، تمیم داري ته دا حکم وشو چې په اوونۍ کښې دوه ورځې دا وکړي. (تهذیب تاریخ ابن عساکر، ۳ټوک، ۳۲۰مخ)
دویم خلیفه تمیم داري اهل بدر سره یوځای کړ او هغه یې د اسلام په مخکښانو او لویانو کښې وګڼه او له بیت الماله یې ورته پیځه زره درهمه خاص کړې. (فتوح البلدان، مخ ۵۵۲،

دوي په حدیثونه روایتول او د عمر په وخت کښې بل چا دا حق نه لرۀ چې حدیث روایت کړي[١] عمر، ټول صحابیان د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله له حدیث نقلولو منعه کړي وو.

دریم: د قران د تفسیر منعه کول

دا کیسه چې مونږ یې راوړو د اهل سنتو په څو کتابونو کښې راغلې ده.[٢]

یو کس چې د تمیم قبیلې له مالدارو کسانو و چې نامه یې صَبیغ بن عِسْل تَمیمی وه په اسکندریه، کښې یې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله له اصحابو د قران د تفسیر پوښتنه کوله.

عمروعاص، عمر خبر کړ. عمر وویل: «هغه حکومتي استازي سره ماته راولږه» کله چې صبیغ حکومتي استازي سره مدینې ته راورسید ، عمر هغه کښیناوۀ او عُرجوني (د کجوري ښاښ چې کجورې یې ترې لرې کړي وي) چې ورسره خوا ته پرته وه هغه یې ورسره دومره په سر وواهه چې هغه وویل: «یا امیر المؤمنین! حَسْبُك قَدْ ذَهَبَ الذي كُنْتُ أجِدُ في رَأْسي؛ بس که، څه چې مې په سر کښې وو

---

چاپ مصر)

کله چې عمر حکم وکړ چې د روژې مستحب لمونځونه (تراویح) دې په جمعه وکړې شي نو په ١۴ هجری کال یې د امام په توګه دوه کسان وټاکل چې یو یې تمیم داري و. هغه به په هغه جامو کښې چې په زرو درهمو یې اخستې وې د مسلمانانو لمانځه ته د امام په توګه مخکښې کیده او جمع به یې ورکوله (تاریخ ابن عساکر، ١٠ټوک، ۴٧٩مخ) تمیم داری د عثمان د خلافت تر اخره په مدینه کښې وو او د اسرائیلیاتو په خپرولو بوخت و. د عثمان له قتله وروسته شام ته وتښتید او په څلویښتم هجري کال کښې له دنیا لاړ. د هغه د لا زیات پیژندګلو لپاره "نقش ائمه در احیاء دین" کتاب وګورئ: ٢ټوک، ٨٣ ـ ٩٩مخ.

١. البته عبداللّٰه بن عباس هم په هغه کسانو کښې و چې د حدیث د نقلولو او د قران د تفسیر اجازت ورته ورکړې شوې و. د لازیات معلوماتو لپاره وګورئ: القرآن الکریم و روایات المدرستین، ٢ټوک، ۴٢٠ ـ ۴٧٢مخونه.

٢. له هغو ځینې په: الدر المنثور، ٢ټوک، ١١١مخ؛ سنن الدارمی، ١ټوک، ۵۴ ـ۵٢مخ؛ تفسیر ابن کثیر، ۴ټوک، ٢٣١ـ٢٣٢مخ؛ تفسیر القرطبی، ١٧ټوک، ٢٩مخ.

ټول والوتل» او کله چې پاڅید نو له سره یې د هغه په لمنې او په عربي کمیس باندې تر ځمکې بهیده. عمر یو ځل بیا هم هغه وغوښت. دا ځل یې هغه په ځمکه څملاوۀ او هغه یې سل کوړې وواهه چې له ملا یې وینې روانې شوې. دریم ځل چې یې هغه راوستۀ، ویې ویل: «یا امیر المؤمنین إن کنتَ تُریدُ قَتْلی فاقْتُلْني قتلاً جمیلاً؛ که چرې ما قتول غواړې نو بې ازاره مې په ښه طریقه ووژنه!»

عمر هغه بصرې ته، ابو موسی اشعري ته چې د بصرې والي و، ولیږ او هغه ته یې حکم وکړ چې خلک دې هغه سره له خبرو کولو منع کړي.

دا سړے به چې کله جمات ته ننوته نو چرته چې به کښیناستۀ خلک به ترې تښتیدل او د جمات په کوم ځای کښې چې به ودریدۀ نو ورسره به خوا کښې څوک نه ودریدل نو څه وخت پس ابو موسی ته ورغے او ورته یې د خپل حال شکایت وکړ او له هغه یې وغوښتل چې خلیفه ته دې سپارښت وکړي چې دا ممنوعیت دې ترې لرې کړي ابو موسی یې سپارښت وکړه او هغه ازاد شو.[1]

نو په دې طریقه یې د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حدیثونو خپریدل منعه کړو. له دې یې هم زیاتې کړے دے.

د ابن سعد په طبقات کتاب کښې د قاسم بن محمد بن ابی‌بکر په ژوند لیک کښې راغلي دي چې عمر د ممبر لپاسه د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله اصحابو ته قسم ورکړ چې چا هم د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیثونه لیکلي وي هغه دې راوړي، اصحابو ته پته نه وه چې نیت یې څه دے نو ټولو اصحابو چې له پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله څه لیکلي وو هغه یې راوړل. نو کله چې ټولو راوړل نو ټول یې راټول کړل او اور یې ورکړ.[2]

دویم خلیفه په دې طریقه د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د حدیثونو خپریدل منعه کړل او یوازې درې کسانو ته یې اجازت ورکړ چې حدیثونه دې نقلوي:

---

۱. القرآن الکریم و روایات المدرستین، ۲ټوک، ۴۱۵-۴۱۷مخ.
۲. طبقات ابن سعد، ۵ټوک، ۱۴۰مخ.

**- عايشه**
**- تميم داری** (چې په اصل کښې عسايي راهب و)
**- کعب‌الأحبار يهودی** (چې په ظاهره يې اسلام قبول کړے و)

ابن عباس ته يې هم اجازت ورکړے و خو هغه ته يې د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله د حديث په نقلولو کښې د خليفه سياست ښودلے و او ورته يې ټاکلي وو چې کومې خبرې به نقلوې او کومې نه؛ «إنّ عُمر كانَ يَقُولُ: أقِلُّوا الرِّوايَةَ عنْ رَسولِ اللّه صلی‌الله‌عليه‌وآله إلاّ في ما يُعْمَلُ بِهِ؛[1] عمر به تل ويل: "په عملي چارو کښې د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله حديث نقلول کم کړئ" (لکه دا چې پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله به څه رنګ وضو کوۀ يا به يې څه رنګ لمونځ کوۀ) له همدې سببه ابن عباس به د هغه ايتونو له تفسيره چې د دوزخ او جنت په هکله دي بل څه به يې نه ويل. دا د عمر حديث سره کړه وړه و. نو د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله د حديثونو څه نه وو پاتې مګر هغه څۀ چې اصحابو سره په خپلو صحيفو کښې (يعنې په هغه قرانونه کښې چې په خپله يې تفسير سره ليکلي وو).

ما په خپل کتاب "القرآن الكريم و روايات المدرستين" په دويم ټوک کښې ليکلي دي چې عمر يو قران وليد چې په حاشيه کښې يې د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله بيان دے نو هغه ځای يې ترې په قينچۍ سره پرې کړ او د پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله حديث (وحي بياني) يې ترې جدا کړه چې باقي پاتې نه شي.[2]

عمر چې کله مړ شو نو عثمان هغه بې وحي بيان قران (چې بې تفسيره جمع شوې و) له حفصې رااخست او حکم يې وکړ چې له دې دې اووه نسخې تياري کړې شي او شپږ نسخې يې مکې، يمن، دمشق، حمص، کوفې او بصرې ته وليږلې.

---

۱. تاريخ ابن کثير، ۸ټوک، ۱۰۷مخ.
۲. کنزالعمال، ۲ټوک، ۲۰۴مخ، ۳۰۲۳حديث، طبع دائرة المعارف العثمانيه، حيدرآباد، ۱۳۶۴ هجری.

يوه نسخه يې ځان سره په مدينه کښې وساتله[۱] هغه قران چې (چې حفصې سره و) په کښې املايي غلطۍ وې. عثمان وويل: «فيهِ لَحْنٌ سَتُقيمُهُ الْعَرَبُ بِأَلْسِنَتِها»؛[۲] په دې نسخې کښې املايي غلطۍ دي چې عرب به يې په خپلو ژبو صحيح لولي» د دې جملې په معنا صحيح څرګنده نه ده. "لحن" يعنې املايي غلطي. مسلمانانو هغه املايي غلطۍ تر ننه پورې په قران کښې هماغه شان پريښې دي. دا کوم قران چې نن سبا مسلمانانو سره دے هماغه قران دے چې کوم د عثمان په وخت کښې املايي غلطو سره ليکل شوے و لکه د «رحمان» ټکې چې «رحمن» ليکل شوے دے، يا «بسطة» ټکې چې «بصطة» ليکلې شوے دے.[۳]
دا خبره چې ليکلي يې دي عثمان قران راغونډ کړ، ما د القرآن الكريم و روايات المدرستين په دويم ټوک کښې ثابته کړې ده چې غلطه ده.[۴]
قرآن د پيغمبر صلی‌اللہ‌علیه‌وآله په وخت کښې د جبرائيل په وحي سره جمع شوے دے.
إِنّ عَلَيْنا جَمْعَهُ وَ قُرْآنَهُ...ثُمّ إِنّ عَلَيْنا بَيانَهُ؛[۵]
د دې قران جمع کول او لوستل زمونږ په ذمې دي... با يې بيانول او څپړل هم

۱. تاريخ الاسلام ذهبى، ۲ټوک، ۱۴۴-۱۴۵مخ.
۲. الدر المنثور، ۲ټوک، ۲۴۲مخ؛ كنز العمال، ۲ټوک، ۳۷۲مخ؛ منتخب كنز، ۲ټوک، ۵۱مخ، د ابن ابی‌داود او ابن انباری د صحيفو په نقل.
۳. يوه بله بيلګه يې دا ده چې لنسفعن، لنسفعا ليکل شوے دے او په علق سورت ۱۵آيت کښې؛ ليکونن، ليکونا ليکل شوے دے او په سوره يوسف، ۳۲آيت کښې. يا ليت، يليت ليکل شوے دے او په سوره زخرف، ۳۸آيت کښې. يعيسى ليکل شوے دے او په سوره آل عمران، ۵۵آيت کښې. شركاءُ، شركؤُا ليکل شوے دے او په سوره مائده، ۱۱۰ او ۱۱۲ آياتونو کښې. لشىء، لشائٍ ليکل شوے دے او په سوره کهف، ۲۳آيت کښې. بِأَيْدٍ، بِاَيْيْدٍ ليکل شوے دے او همدارنګ د سوره ذاريات، ۴۷آيت.
۴. القرآن الكريم و روايات المدرستين، ۲ټوک، ۷۱-۹۵مخ.
۵. سوره قيامت، ۱۷ و ۱۹آياتونه.

زمونږ په ذمې دي.
په لومړي ځل قران خدای د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په سینې کښې غونډ کړ او هر کال به د روژې په میاشتې کښې، جبرائیل هغه قران چې په پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله نازل شوے و هغې سره به یې مخامخوۀ او د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله د وفات په کال دوه ځله د جبرائیل او پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله تر مینځ دا قران سره مخامخ او سره مقابل شوے دے[1] د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله په وخت کښې په سلګونو حافظانو او اصحابو دا قران په خپله له پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله زده کړې او لیکلې و.[2] او په زرګونو کسانو حفظ کړے و[3] او په کښې هیڅ کمې او زیاتې نه دے شوے[4] کوم څۀ دي هغه هغه حدیثونو دي (چې وحي بیاني او یا تفسیر) و هغه یې تر حذف کړ او کوم قران چې اوس زمونږ په لاس کښې دے هغه د عثمان په وخت کښې لیکل شوے دے، نه دا چې عثمان دا قران راغونډ کړے وي قران خو پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله او ابوبکر او عمر هم نه و جمع کړے بلکې قران خدای پاک جمع کړے دے.
کوم روایتونه (چې دا غونډول بل چا نسبت ورکول) ټول دروغ دي او په القرآن الکریم و روایات المدرستین، (باب جمع القرآن) دویم ټوک کښې دا خبره ثابته شوې ده.
مثلا دا چې: إِنّما یُریدُ اللّهُ لِیُذْهِبَ عَنْکُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَیْت،[5] د هغه ایتونو تر مینځ راغلے دے چې د پیغمبر میرمنو په هکله دي د دې لپاره دے چې دا

۱. مسند احمد، ۲ټوک، ۲۸۲مخ؛ سنن ابن ماجه، ۵۱۸مخ، ۱۲۲۱حدیث؛ صحیح مسلم، ۴ټوک، ۱۹۰۵مخ، ۹۸ و ۹۹حدیث.
۲. القرآن الکریم و روایات المدرستین، ۱ټوک، ۱۳۰ـ۲۱۸مخ.
۳. همان.
۴. القرآن الکریم و روایات المدرستین، ۲ټوک، ۹۵ـ۱۲۱مخ.
۵. سوره احزاب، ۳۳آیت: «خدای له دې بله نه غواړي چې تاسو اهلبیت پاک کړي او پلیدی په کامله توګه له تاسو لرې کړي»

خطاب: «وَ لا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجاهِلِیَّةِ الْأُولی»[۱] حضرت زهرا(س) ته نه شاملیږي او هغه بي بي د قران د نص مطابق معصومه او پاکه ده او دا ایت د خدای د حکم مطابق د دې ایتونو تر مینځ راغلے دے.

د قران یو ایت یا یوه کلمه، له خپل ځایه نه دے خوځیدلې او نه بدله شوې ده. د تحریف د روایتونو په هکله باید دا ووایم چې دا خبره اصلا صحیح نه ده یا یې مونږ په معنې نه یو پوه. د قران د یو ټکي ځای په ځای کیدل داسې دي لکه چې ووایو مثلا سترګې د غوږ په ځای کیښودې شو، نو دا څه امکان نه دلري ځکه چې د ټکو او ایتونو ځای په ځای کیدو سره معنی بدلیږي.

د قران سورتونه وزن لري، زۀ یې په وزن پوهیږم خو بیانولې یې نه شم. کله چې یې ټکي بدل شي نو د هغې وزن او معنی بدلیږي. د قران سورتونه داسې دي لکه په تیره زمانه کښې د خلیل بن احمد شعرونه؛ چې وزن لري خو اوسه پورې خلک لا د هغې په وزن صحیح نه دي پوه شوي. د قران یو ټکې، نه کم شوې او نه زیات شوې نه وړاندې شوې او نه وروسته شوې، هر یو ټکې په خپل ځای کښې د نورو ټکو په ځای راغلےدے او نورو ټکو او ټول سورت سره سمون لري.

دې ته په پام کوم څۀ چې دلته بیان شول، خلیفه ګانو اول حدیثونه راغونډ کړل او ویې سوځول او بیا دریم خلیفه، عثمان، هغه قرانونه چې وحي بیاني ورسره وه او "مصحف" به یې ورته ویل، ټول راجمع کړل او ویې سوځول یواځې یو کس ورته خپل مصحف ورنه کړ او هغه عبدالله بن مسعود و.

نو د عثمان په وخت کښې هم د قرانونو راټولول له زیات شو. هغه صحابه چې د عثمان په خلاف یې پاڅون کړے و، هغوي به له قرانه ګټۀ اخسته. عبدالله بن مسعود چې د کوفې د خلکو «مُقْرِیء»[۲] و، په کوفه کښې د هغه ځای والي ولید

۱. سوره احزاب، ۳۳ آیت: «اے د پیغمبر ماندینو... لکه د لومړني جاهلیت په شان خلکو ته مه څرګندیږئ»

۲. مقریء یعنی هغه کس چې قرآن وحی بیانی سره تفسیر او تعلیم کوي.

سره په جنګ شو. ابن مسعود، دا ايت إِنْ جاءَكُمْ فاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا[۱] لوستۀ او ويل به يې چې دا ايت د وليد په هکله نازل شوے دے.[۲] نو له دې سببه عثمان له خلکو مصحفونه راغونډ کړل او ټول يې وسوځول، مګر ابن مسعود چې خپل مصحف ورنه کړ نو چې څه يې له وسه کيدل هغه سره يې وکړل! نو څومره دروغ چې يې تړلي شو د هغه مصحف پسې يې وتړل. بني اميه و د هغه د شخصيت د خرابولو لپاره په هغه پسې او د هغه په مصحف پسې ډېر دروغ وتړل؛ چې يو ترې دا و چې ويل به يې: د هغه په مصحف کښې «معوّذتين» نه دي راغلي.[۳]

دا کوم قران چې له مونږ سره دے، دا هماغه قران دے چې په پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله نازل شوے دے او په کښې هيڅ کمې زياتې او ځای په ځای والې نه دے راغلے، هغه يوازينې کار چې هغوي وکړ هغه دا و چې وحي بياني يې ترې جدا کړه لکه څه رنګ چې يې له دې وړاندې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله د حديثونو ليکل او نقلول منعه کړې وو.

يوازې د حضرت علی(ع) د ظاهري خلافت په وخت (له ۳۶ تر ۴۰ هجري کاله) کښې او د عمر بن عبدالعزيز په وخت (له ۹۹ تر ۱۰۱ هجری کاله) کښې د

---

۱. سوره حجرات، ۶آيت: «که يو فاسق کس تاسو ته څۀ خبر راوړ نو د هغې په هکله تحقيق وکړئ»

۲. تفسير طبری، ۲۲ټوک، ۷۸مخ؛ تفسير سيوطی، ۲ټوک، ۸۸ـ۹۲مخ.

۳. الاتقان، ۱ټوک، ۸۱مخ؛ مسند احمد، ۵ټوک، ۱۲۹ مخ او همدارنګ وګورئ: القرآن الکريم و روايات المدرستين، ۲ټوک، ۱۰۴ ـ ۱۰۲مخونه. له معوذتينو مراد، دا دوه سورتونه «ناس» او «فلق» دي.

د عبدالله بن مسعود د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله په وړاندې شان او د عثمان او بني اميه هغه سره بد چلن کتلو لپاره وګورئ: القرآن الکريم و روايات المدرستين، ۲ټوک، ۴۲۲ ـ ۴۷۰ مخونه او احاديث أم المؤمنين عائشه، ۱ټوک، ۱۱۳ ـ ۱۱۷مخونه، د ۱۴۱۴ هجری پينځم چاپ.

پیغمبر صلی‌اللّه‌علیه‌وآله د حدیث لیکلو ته اجازت ورکړې شو.[۱] بیا کله چې عمر بن عبدالعزیز ته په خپله بني امیه و زهر ورکړو او ویې وژۀ نو د حدیث لیکل بیا منعه شو تر ۱۴۳ هجری کاله پورې.[۲] تر دې چې داسې حدیثونه یې هم جوړ کړل چې پیغمبر صلی‌اللّه‌علیه‌وآله فرمایلي دي: «لا تکتُبوا عنّي و مَنْ کتب عنّي غیرَ القرآن فلْیَمْحُه؛ له ما روایت مۀ لیکئ او څوک چې له بې له قرانه بل څه ولیکي باید هغه دې ختم کړي.»[۳]

په تاریخ الخلفاء سیوطی کښې (د ابوجعفر منصور په حالاتو کښې) او په تاریخ الاسلام ذهبی (د ۱۴۳ هجري کال په تاریخ کښې) راغلي دي چې د حدیث لیکلو اجازت د منصور په وخت کښې ورکړې شو. نو سیرت او حدیث او تفسیر او نور له هغه وخته په لیکلو شو.[۴] نو د خدای د رسول(ص) حدیثونه د خلیفه ګانو په مذهب کښې ۱۳۰ کاله له یوې سینې بلې ته منتقل کیدل.

د پیغمبر صلی‌اللّه‌علیه‌وآله حدیثونه د امام علی علیه السلام او معاویه په خلافت کښې

حضرت امیر علیه‌السلام دوه کارونه وکړل: یو قراني خدمت وکړ چې د «نحو» علم یې د قران د حفظ لپاره جوړ کړ.[۵] او د حضرت امیر علیه‌السلام دویم کار دا

---

۱. سنن دارمی، سریزه، ۱۲۲مخ؛ طبقات ابن سعد، ۷ټوک، ۴۴۷مخ، بیروت چاپ؛ مصنف عبدالرازق، ۹ټوک، ۳۳۷مخ، هند چاپ، ۱۹۷۰ م؛ اخبار اصبهان ابو نعیم، ۱ټوک، ۳۱۲مخ؛ تدریب الراوی سیوطی، ۹۰مخ؛ فتح الباری، باب کتابة العلم، ۱ټوک، ۲۱۸مخ.

۲. معالم المدرستین، ۲ټوک، ۵۷مخ، لومړی چاپ، ۱۴۱۲ هجری.

۳. صحیح مسلم، ۴ټوک، ۹۷مخ؛ سنن دارمی، ۱ټوک، ۱۱۹مخ؛ مسند احمد، ۳ټوک، ۱۲، ۳۹ و ۵۶ مخونه.

۴. تاریخ الخلفاء، سیوطی، ۲۲۱مخ؛ تاریخ الاسلام ذهبی، ۲ټوک، ۲مخ.

۵. طبقات النحویین، ابی‌الاسود، ۱۳مخ؛ فهرست ابن ندیم، المقالة الثانیة، الفن الاول من اخبار النحویین، ۵۹ ـ ۶۰مخ؛ وفیات الاعیان، ۲ټوک، ۲۱۶مخ؛ الهدایة و النهایة ابن کثیر، ۸ټوک، ۳۱۲مخ؛ الاغانی، ۱۲ټوک، ۳۰۲ مخ و ط. سیاسی، ۱۱ټوک، ۱۰۱مخ،

و چې هغه اصحاب چې په کوفه کښې وو او د هغوي شمير ۱۸۰۰ رسيدۀ هغوي يې د پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله د حديثونو په نقلولو کښې ازاد پريښودل بلکې ځينې وختونو کښې يې هغوي تشويق کړل، لکه د غدير د حديث په نقل کښې.[۱]
او په صحيح بخاري او مسلم کښې او نورو ځايونو کښې چې کوم حديثونه صحيح دي هغه د حضرت امير عليه السلام له زمانې دي. مثلاً په صحيح مسلم کښې راغلي دي چې پيغمبر صلی‌اللّٰه‌عليه‌وآله علي عليه السلام ته وفرمايل: «أنت مِنّي بِمَنْزِلَةِ هارونَ مِنْ موسى إلاّ أنّهُ لا نَبِيَّ بَعْدي.»[۲]
معاويه چې کله حاکميت وموند، ويې ليدل چې اسلامي علمونه او عالم اسلام د هغه په خلاف دے او د حضرت على عليه السلام په فضيلت کښې حديثونه زيات خپاره شوي دي نو حکم يې وکړ چې د ابوتراب علي عليه السلام او د هغه د اولاد په هلکه دې يو حديث هم نقل نه شي.[۳]
نو څه يې وکړل؟ په حديثونو کښې رامنځته شوې ټکرې يوه بيلګه بيانوم.[۴]
د خليفه ګانو د مکتب په روايتونو کښې په تاريخ طبري او تفسير طبري کښې

تاريخ ابن عساكر د ابی‌الاسود الدوئلی ترجمه؛ معجم الادباء، ۱۴ټوک، ۴۹مخ؛ نزهة الالباد فی طبقات الادباء، ۵، ۱۸ـ۲۲ و ۳۰۲ مخونه، انباه الرواة قفطی، ۱ټوک، ۴ـ۲مخ، قاهره چاپ، سنة ۱۳۶۹.
۱. تاريخ ابن کثير، ۵ټوک، ۲۱۰ ـ ۲۱۲مخ؛ مسند احمد، ۱ټوک، ۱۱۸ ـ ۱۱۹ مخ او ۴ټوک، ۳۷۰مخ؛ مجمع الزوائد، ۹ټوک، ۱۰۵مخ. همدارنګ وګورئ معالم المدرستين پينځم چاپ، ۱ټوک، ۴۹۹ـ ۵۰۰مخ؛ نقش ائمه در احياء دين، ۱۴ټوک، ۱۸۸ـ۱۸۹مخ.
۲. صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۰مخ، باب فضائل على بن أبى طالب. په صحيح بخارى کښې،۲ټوک، ۲۰۰مخ، باب مناقب على بن ابی‌طالب هم دا روايت راوړے دے خو اخري عبارت يې دارنګ دے: الا انه ليس نبی بعدی.
۳. شرح نهج‌البلاغه ابن ابی‌الحديد معتزلی، ټوک ۳، مخ ۱۵ـ۱۲.
۴. او د لازياتې خبرتيا لپاره د أحاديث أم‌المؤمنين عائشه دوه ټوکه کتاب او د نقش عايشه در تاريخ اسلام کتاب ترجمه وګورئ.

راغلـي دي چـې کلـه دا ایـت: و أنْـذِرْ عَشـیرَتَكَ الـأقْرَبینَ[۱] نـازل شـو، پیغمبـر صلی‌الله‌علیه‌وآله حکم وکړ بني عبدالمطلب راغلل او هغوي ته یې وویـل: «أیُّکُمْ یُؤازِرُني علَى هذا الأمْرِ علی أن یکون أخي و وصیيي و خلیفتي فیکم؟؛ په تاسو کښې څوک په دې کار کښې زما مرسته کوي چې پـه تاسو کښـې زمـا ورور او وصي او خلیفه وي؟» هیچا قبوله نه کړه. علی علیـه السـلام پـه دغـه وخت کښـې ځوان و، ویې ویل: «أنا یا نبیّ اللّه؛ زهٔ اے د خدای رسوله» حضرت، اوچت کړ او ویې فرمایل: «إنّ هذا أخي و وصیيي و خلیفتي فیکم فَاسْمَعُوا لـه و أطیعـوا؛ دې په تاسو کښې زما ورور او زما وصي او زما خلیفه دے نو خبره یې واورئ او اطاعت یې وکړئ»

بنی‌عبدالمطلب پاڅیدل او لاړل او په ابوطالب پسې یې مسخرې وکړې چې: «قَدْ أمَرَكَ أنْ تَسْمَعَ لابْنِكَ و تُطیعَ؛ دا ته یې حکم درکړ چې د خپل زوې خبره واورې او اطاعت یې وکړې.»[۲]

خو ابوهریره وایي چې کله دا ایت «و أنذر عشیرتك الأقربین» نـازل شـو، پیغمبـر صلی‌الله‌علیـه‌وآلـه د صفا غـره تـه وختـه او ویـې فرمایـل: «یـا بنـی‌عبدمناف! یـا بنی‌عبدالمطلب! یا صفیة بنت عبدالمطلب! یا فاطمة بنت محمد! یا عائشـة بنت

---

۱. سوره شعراء، ۲۱۴آیت: او خپلوان دې وویروه.

۲. تاریخ طبری، د یورپ چاپ، ۱ټوک، ۱۱۷۱ او ۱۱۷۲مخ؛ او ابن عساکر، د محمودی تحقیق، ۱ټوک، ۸۸مخ؛ تاریخ ابن اثیر، ۲ټوک، ۲۲۲مخ؛ شرح ابن ابی‌الحدید، ۳ټوک، ۲۲۳مخ. دا خبره پاتې نه شي چې طبري د خپل تاریخ په کتاب کښې، لکه څه رنګ چې نقل شوي دي دا روایت مکمل راوړے دے خو د خپل تفسیر په کتاب کښې یې د دې یاد شوي ایت لاندې دا روایت نقل کړے او هغه ټکي چې د امیرالمؤمنین علیه السلام په خلافت باندې دلالت کوي هغه یې پرېښې دي او د هغو په ځای یې مبهم ټکي لکه ـ کذا و کذا ـ راوړي دي. هغه د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله خبره داسې نقل کړې ده: «ان هذا أخی و کذا و کذا!»

أبيبكر! إنّى لا أملك لكم من اللّه شيئا.»[1]
ابوهريره د خيبر د فتح په کال په هغه بيړۍ کښې چې جعفر بن ابي طالب او د هغه ياران يې له حبشې يمن ته راوړي وو، له هغه ځايه مدينې ته راغلے و. دوي د خيبر په فتحې کښې د اسلام سپايانو ته ورسيدل او پيغمبر صلیاللهعلیهوآله دوي د خيبر له غنيمتونو برخه ورکړه.
أبو هريره د دې ايت «وَ أَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ»، د نازليدو په وخت کوم ځای و چې دا کيسه روايتوي؟ بي‌بي زهرا (س) د بعثت په پينځم کال زيږيدلې وه.[2] او دا ايت د بعثت په دريم کال نازله شوې ده. په دې کال کښې لا بي‌بي زهرا (س) او عايشه نه وې پيدا.
امام جعفر صادق علیهالسلام فرمايي: «ثلاثةٌ کانوا يکذبون على رسول اللّه صلیاللهعلیهوآله، أبو هريرة و أنس بن مالك و امرأة؛ درې کسان دي چې د خدای په رسول پسې به يې دروغ تړل او هغه: ابوهريره او انس بن مالک او يوه ښځه ده» (چې مطلب يې څرګند دے)[3]
دا درې کسان په نظر کښې وساتئ. کومې خرابکارۍ چې د پيغمبر صلیاللهعلیهوآله په حديثونو کښې دې دريو کسانو وکړې داسې هيڅا نه دي کړې.[4] نن چې دا کوم دروغ حديثونه دي هغه ډېر د معاويه په وخت کښې جوړ شوي دي.

---

۱. يعنې: اے د عبد مناف بچو، اے د عبدالمطلب بچو، اے صفيه د عبدالمطلب لور، اے فاطمه د محمد لور، او اے عايشه د أبوبکر لور، زۀ د خداى له خوا تاسو سره څۀ وعده نه کوم.
لږ څۀ فرق سره دا خبره سنن النسائى، ۲ټوک، ۲۴۷مخ؛ مسند احمد، ۲ټوک، ۳۵۰مخ؛ صحيح بخارى، ۴ټوک، ۱۲۱مخ هم راوړې ده.
۲. بحارالانوار، ۴۳ټوک، ۹مخ، ۱۳ او ۱۲حديث.
۳. بحارالانوار، ۲ټوک، ۲۱۷مخ؛ الايضاح، ۵۴۱مخ؛ الخصال، ۱۹۰مخ، ۲۲۳حديث.
۴. وګورئ: الکافى، ۳ټوک، ۳۴۲مخ؛ التهذيب، ۲ټوک، ۳۲۱مخ.

مدائنی په خپل کتاب الأحداث کښې ليکي:
معاويه له دې وروسته چې خلافت يې په لاس راوړ، نو خپلو کارگرو ته يې دا رنگ حکم ورکړ:
څوک چې هم د ابوتراب علي او د هغه د کورنۍ په ستاينه کښې څه ووايي نو د هغه د وينې او مال څه حرمت نشته او وينه يې څه پور نه لري.
يو ځل بيا معاويه خپلو کارگرو ته په ټولو سيمې کښې په خپل حکم کښې وليکل: د علي او د هغه د کورنۍ د هيچا گواهي مه قبلوئ. او همدارنگ يې حکم وکړ: څوک چې هم د عثمان ملگري وي او هغه سره يې مينه وي او هغه کسان چې د هغوي په ستاينه کښې حديث نقلوي، نو زما د حکومت په ټولو سيمو کښې هغه وپيژنئ او ځان ته يې نزدې کړئ او درناوې يې وکړئ. بيا چې داسې کسان د عثمان په فضيلت کښې څه وايي هغه راته وليکئ او د ويونکي نامه او د هغه د پلار نامه او کورنۍ يې هم راوليکئ!
دا حکم داسې جاري شو او ځان بيللو او حريصناکو او بيغيرتو د دنيا د مال لپاره داسې حديثونه له ځانه جوړ کړل چې د عثمان فضيلتونه زيات شول! ځکه چې معاويه پيسه جامه او ځمکې او څه چې په لاس کښې وو بې دريغه په دې لاره کښې خرچ کړل. او يو ناپيژندلې او سپک کس چې به د معاويه کارگرو ته ورغے او څه چې به يې د حديث په توگه د عثمان په ستاينه کښې نقلول، نو ورته به پام کيدهٔ؛ د هغه نامه به يې ليکله او د حکومت په چارو کښې به ورته مقام ترلاسه کيدهٔ.
څه وخت پس معاويه يو بل حکم وکړ چې خپلو کارگرو ته يې حکم ورکړ: اوس د عثمان فضيلتونه زيات شو او ټولو ښارونو کښې اوريدې شي نو اوس خلک دې ته وهڅوئ چې د لومړيو خليفه گانو په فضيلت کښې روايتونه راوړي او د ابوتراب په فضيلت کښې يو حديث هم داسې پاتې نه شي مگر دا چې د هغه په

شان د لومړیو خلیفه ګانو لپاره ماته راوړئ یا یې اپوته روایت راوړئ.[۱]
ابن عرفه چې په نَفْطَوَیه مشهور دے لیکي:
"ډېر هغه دروغ حدیثونه چې د اصحابو په فضیلت کښې بیانیږي د بني امیه په وخت کښې جوړ شوي دي او هغه هم یواځې په دې غرض چې روایت کوونکے ورسره ځان خلیفه ته نزدې کړي".[۲]
د خلیفه ګانو په مکتب کښې د حدیث د روایت کولو دا لنډه غوندې وینا وه.

***

د پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله حدیثونه د اهل البیت علیهم‌السلام په مذهب کښې
د اهلبیتوعلیهم‌السلام په کتابونو کښې.
امامانو سره یو کتاب و چې نامه یې جامعه وه چې قصه یې داسې ده:
کوم څه چې پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله ته وحي کیدل، د شپې به علی علیه السلام پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله ته راتلهٔ او پیغمبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله به هغه ویل او هغه به لیکل.[۳]
هغه ته یې وویل: «ولیکه!» ویې ویل: «آیا ویریږې چې زهٔ یې هیر نه کړم؟» ویې فرمایل: «نه، نه ویریږم؛ ځکه چې له خدایه مې غوښتي دي چې ته څه هیر نه کړې؛ خو د خپلو شریکانو لپاره ولیکه.» ویې ویل: «زما شریکان څوک دي؟» حضرت صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله امام حسن علیه‌السلام ته اشاره وکړه ـ چې په دغه وخت کښې ماشوم و ـ او ویې فرمایل: «ستا دا زوے له هغوي لومړے کس دے.» بیا یې امام حسین علیه‌السلام اشاره وکړه ـ چې هغه هم دغه وخت ماشوم و ـ او ویې

۱. د شرح نهج‌البلاغه ابن أبی‌الحدید په تفصیل کښې د مدائني روایت، ۳ټوک، ۱۵-۱۲ مخ.
۲. هماغه.
۳. در بعضی روایات دیگر آمده که شبانه‌روزی دو بار نزد پیامبر صلی‌اللّٰه‌علیه‌وآله می‌رفتند. الکافی. کتاب فضل‌العلم، ج۱، ص۲۴، تصحیح استاد علی اکبر غفاری؛ سنن ابن ماجه، حدیث۳۷۰۸ من باب الاستئذان بکتاب الاذن.

ویل: «له هغوي دویم تن دا دے او د هغه له نسله نهه کسان.»[۱]

حضرت علی علیه‌السلام به هغه څه چې له یوۀ ملاقاته تر بل ملاقاته پورې په پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله وحي شوي وو د اوښ په یوې څرمنې لیکل[۲] چې د دې ټولو لیکلو نامه جامعه شوه. په روایت کښې راغلي دي چې جامعه اویا زراغه[۳] (فُټه) وه او د امام رضا علیه السلام تر وخته پورې اوولسو اصحابو هغه لیدلې ده.[۴]

امامانو به خپلو اصحابو ته له جامعه او د علی علیه السلام له مصحفه (یعنی هغه قران چې وحي بیاني هم په کښې وه) خپلو اصحابو ته روایتونه نقلول[۵] او اصحابو به لیکل، تر دې چې د هغو لیکلو شمیر څلور سوره اصلو ته ورسید او ورته څلور سوه اصله نامه ورکړې شوه. کیدې شي چې وروسته یې شمیر له دې هم زیات شوې وي.

دا اصلونه ډیر واړه واړه کتابونه وو.[۶] له هغوي دوه اصله اوس د تهران په

۱. بحارالانوار، ټوک ۳۲، مخ ۲۳۲.

۲. د اوښ څرمن چې به یې کله صفا کړه نو داسې به شوه لکه اوسنې کاغذ او د لیکلو توان به یې ورباندې لرلو. دا څرمن به یې داسې د داسې څیزونو د لیکلو لپاره استعمالوله چې غوښتل یې تر ډیر وخته پاتې شي. د دې څرمنې ځینې بیلګې اوس هم د امام رضا علیه السلام د روزې په نندارتون کښې پرتې دي چې قراني ایتونه ورباندې لیکلي شوي دي.

۳. کافی، ۱ټوک، ۲۳۹مخ. ۱حدیث؛ بصائر الدرجات، ۱۵۲ـ۱۵۱مخ؛ وافی، ۲ج، ۱۳۵مخ. ذراع یوه اندازه ده لکه فټ چې د ګوتو له څوکې تر څنګل پورې وي.

۴. معالم المدرستین، ۲ټوک، ۳۵۹ـ۳۴۹مخ، څلورم چاپ، ۱۴۱۲ هجری.

۵. معالم المدرستین، ۲ټوک، ۳۴۹ـ۳۴۵مخ، څلورم چاپ، ۱۴۱۲ هجری. و همدارنګ وګورئ: فصلنامه علوم حدیث، دریمه شمېره، ۱۴۱مخ، "امیرمؤمنان علیه‌السلام قدیم‌ترین سند حدیثی" مقاله، محمدصادق نجمی.

۶. د اهلبیتو علهیم السلام د مذهب په اصطلاح کښې "اصل" هغه روایي کتاب ته وایي چې لیکوال هغه روایت یا په خپله له معصومه اوریدلي وو یا یې په یوې واسطې سره له معصومه نقلوي، او په کښې داسې حدیث نه وي چې هغه حدیث لیکوال هغه له یو کتابه

پوهنتون کښې د عُصفُری په نامه موجود دي.

ډېره ضروري ده چې دا «اصول اربعمائة» حوزه علميه پيدا کړي او د هغوي سرليک د حديثونو په کتابونو کښې بياموميې چې په کومو کتابونو کښې له هغو اصلونو حديثونه نقل شوي دي. دا يو ډېر لوی خدمت دے. البته بايد کافی، استبصار، تهذيب و... هم وڅېړل شي او دا هم مهم دي.

هغه لومړی کس چې اصول اربعمائة يې راغونډ کړي دي، او زمونږ په لاسو کښې موجود دي هغه شيخ کلينی (وفات کال ۳۲۹ هجری) دے چې څو اصلونه يې په کافي کښې راغونډ کړي دي. کلينی، شل کاله له يوه ښاره بل ښار ته، له يوه کلي بل کلي ته او له نشاپوره تر بغداده تلےدے او څه چې په لاس ورغلي دي، راغونډ کړي دي.[1]

دويم هغه کس چې دا اصول يې راغونډ کړل او په ډېره ښه طريقه يې راغونډ کړل هغه شيخ صدوق (وفات کال ۳۸۱ هجری) دے.هغه له دوو سوو زيات کتابونه لري.[2]

له هغه وروسته شيخ طوسی (وفات کال، ۴۶۰ هجری) دے چې له اصولو يې د فقهې هغه برخه چې په لاس ورغلې وه په استبصار او تهذيب کښې غونډه کړې ده.[3]

---

ليکلے وي. همدارنګ وګورئ: معالم المدرستين، ۳ټوک، ۲۵۸مخ، څلورم چاپ، ۱۴۱۲ هجری.

۱. رجال نجاشی، ۲۶۶مخ.

۲. د تفصيل لپاره وګورئ: د من لا يحضره الفقيه کتاب سريزه چې استاد علي اکبر غفاري يې څېړنه کړې ده، ۱ټوک، هماغه چاپ.

۳. دا څلور کتابونه (کافی، من لايحضره الفقيه، استبصار و تهذيب) د شيعو څلور کتابونه ده. او ليکوالان يې (محمد بن يعقوب کلينی د کافی ليکوال، محمد بن علی بن حسين بابويه قمی د من لايحضره الفقيه او محمد بن حسن طوسی د استبصار او تهذيب ليکوال دے) چې دوي په محمدون ثلاثه اول هم مشهور دي.

له ټولو مهم ټکي دا دے چې زمونږ عالمانو د شيخ صدوق له وخته حديثونه سره دوه ډوله کار وکړ: يو کار يې فقهي حديثونو سره وکړ، او يو يې غير فقهي حديثونو سره وکړ. هغوي فقهي حديثونو سره يو خاص کار وکړ. شيخ صدوق په خپلو دوه سوه کتابونو کښې له هغه کسانو روايتونه راوړي دي چې په "من لايحضره الفقيه" کښې له هغوي روايت نه کوي؛ شيخ طوسی په خپل کتاب تبيان کښې له ځينو کسانو لکه عايشه او عبدالله بن زبير روايت نقلوي چې له هغوي په استبصار او تهذيب روايت نه نقلوي. زمونږ فقيهانو ـ رضوان الله تعالی عليهم ـ لکه: آيت الله بروجردی او آيت الله خويی، په فقهي حديثونو کښې د سند او متن له مخې دومره ځيړنې کړي دي چې يو انسان له دې زياته ځيړنه نه شي کولے او ما علمي بحث سره دا خبره ثابته کړې ده[1] چې که څوک دا وغواړي چې هغه اسلامي حکمونو ته ورسي چې پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وآله راوړي دي نو بې له دې يې بله لاره نشته چې د شيعه فقهي رسالو ته رجوع وکړي.
خو له بده مرغه له فقهي حديثونو علاوه په نورو کښې ډېره ځيړنه نه ده شوې. د بېلګې په توګه شيخ طوسی، د «اِفْك» قصه نقلوي او وايي چې دا د عايشې په هکله ده او ايتونو د عايشې د خلاصي لپاره نازل شوي دي.
دا خبره د شيخ طوسي له تبيانه مجمع البيان ته هم تلې ده او... د ابوالفتوح رازي تفسير ته او د ګازر تفسير ته او نورو ته.
په داسې حال کښې چې د «افك» ايتونه د ماريه د خلاصي لپاره نازل شوي دي چې عايشه او د هغو پلويانو په هغې پسې تړلي وو. (د اصل قصې لپاره "نقش عائشه در تاريخ اسلام" کتاب، ج ١، مخ ٨٢ ـ ٨٨ ته مراجعه وکړئ.)[2]

---

١. معالم المدرستين، ٣ټوک، ٢٥٣ـ٣٢٥مخ، څلورم چاپ، ١۴١٢ هجری.
٢. همدارنګ وګورئ: احاديث أم‌المؤمنين عايشه کتاب، ٢ټوک، ٩٩ـ١۵٣ و ١٢۵ـ١٨۵مخونه. لومړی چاپ، ١۴١٨هـ.

هغه لومړنی کس چې تر ننه پورې یې زمونږ په غیر فقهي حدیثونو کښې څېړنه کړې ده هغه علامه شوشتری رحمه‌الله دے چې په الأخبار الدخیلة کتاب او په خپلو نورو کتابونو[1]، کښې یې ارزښتمن کارونه کړي دي.

مونږ د حدیثونو، ادابو، اخلاقو او عقیدو حدیثونو ته ډېر اړمن یو. خو که زۀ وغواړم چې هغه خرابکارۍ چې زمونږ په غیر فقهي کتابونو کښې شوي دي نه په فقهي کتابونو کښې، بیان کړم، نو ډېرو کتابونو لیکلو ته اړمن یم بې له هغه کتابونو چې لیکلي مو دي.[2]

او ځینې داسې روایتونه هم شته چې زۀ ورته «منتقله روایات» وایم دا روایتونه په اصل کښې د خلیفه ګانو د مذهب په کتابونو کښې وو او له هغه ځایه زمونږ کتابونو ته، مخصوصا د شیخ طوسي تبیان او نورو ته راوړیدلي دي، او تر دې چې لکه د شیخ عباس قمي منتهی الامال ته هم راغلي دي.[3]

د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله د سیرت په کتابونو کښې هم پوره څېړنه نه ده شوې. کله بحارالانوار په ایران کښې نه و چا شوې، نو زۀ په کاظمین کښې وم. اراده مې وکړه چې یوه علمي ډله جوړه کړو چې د بحار تصحیح وکړي او بیا یې چاپ کړو، علمي ډله جوړه شوه، زۀ وم او شیخ محمد رضا شبیبی (د شیعه عالماو او د عراق د علمي ډلې مشر) و؛ ډاکټر مصطفی جواد (چې په عربۍ ژبه کښې یې تخصص لرلو) او ډاکټر صاحب زینی هم و.

ومې ویل د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله له سیرته شورو کړم، نو داسې حدیثونو ته ورسیدم چې هیڅ امکان نه لري چې هغه صحیح وي؛ مثلا دا چې ځمکه د غوا په

---

۱. لکه بهج الصباغة فی شرح نهج البلاغة.

۲. وګوئ د القرآن الکریم و روایات المدرستین دریم ټوک او د هغه روایتونو د سندونو څېړنه چې حاجي نوري د دلیل په توګه راوړي دي.

۳. د لازیات تفصل لپاره وګورئ معالم المدرستین، ۳ټوک، ۳۵۹ ـ ۳۶۰مخ، څلورم چاپ، ۱۴۱۲ هجری او نقش ائمه در احیاء دین، ۷ ټوک او القرآن الکریم و روایات المدرستین، ۳ټوک، ۱۱۹ـ۱۲۸مخ.

ښکر باندې ده، غوا په یوۀ مهي ده او...! د دې راوي څوک و؟ کله چې مې یې سند ولټوۀ نو ومې لیدل چې سند یې له ابوالحسن البکر دے[1] نو هلته مې دا ضروري وګڼله چې د بحارالانوار مصدرونه (چې له کوم ځایه راخستې شوے دے) ولټوم او په دې لټه کښې مې ولیدل چې علامه مجلسي د خپل کتاب په مصدرونو کښې د شیعو د دوه سوه پنځوسو مصدرونو نامې اخستې دي او د اهل سنتو له نوي مصدرونو نامې یې اخستې دي. ما وکتل چې علامه مجلسي فرمايي چې ابوالحسن البکری شیعه و او د هغه د شیعه شونې لپاره دلیلونه راوړي یو دلیل یې دا و چې دا حدیثونه یې په دهه ربیع‌المولود «فی محضر من العلماء» کښې لوستي دي.[2] دویم دلیل یې دا و چې هغه د شهید ثاني استاذ و. د هغه لومړی دلیل خو زمونږ لپاره حجت نه دے. له دې سببه چې د علماوو په وړاندې کیدې شي له سیره ابن هشامه هم یو مطلب د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله په هکله مونږ ته نقل کړي.

د دویم دلیل په هکله مو هم څیړنه او بحث وکړ. معلومه شوه چې دا کس د شهید ثاني په روایت کښې استاذ و او هغه هم د روایتونو په اجازت کښې چې شیعه په سني ته او سني به شیعه ته ورکوله.

بیا مې مطالعه وکړه؛ ومې لیدل ابوالحسن البکري دوه کسان دي: یو په شام

---

۱. احمد بن عبدالله بن محمد، د لومړی خلیفه ابوبکر له لمسیو دے چې په دریمې پیړۍ کښې وفات شوے دے ذهبی د هغه د ژوند په حال کښې لیکي: «واضع القصص التی لم تکن قط» او هغه هغه ابوالحسن البکری محمد بن محمد بن عبدالرحمن نه علاوه یو بل کس دے چې په ۹۵۴ هجری کال کښې وفات شوے دے.

د ابو الحسن البکری په هکله د خبرتیا لپاره وګورئ: میزان الاعتدال، د احمد بن عبدالله د ترجمې شمېره ۴۴۰ ژوند لیک او لسان المیزان (د ترجمې شمېره ۲۳۹) او اعلام زرکلی، ۱ټوک، ۱۴۸مخ.

۲. معلومیږي چې په هغه وخت کښې به په اصفهان کښې د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وآله د زوکړې لس ورځې جشن کیده.

کښې و او يو په مصر کښې. د يوۀ نامه احمد ده او د دويم محمد. دا روايت د هغه مصري دے چې په جعلي حديثونو مشهور دے او درې کتابه لري: يو د پيغمبر صلی اللهعليهوآله د زوکړې په هکله يو د علی عليه السلام د شهادت په هکله او يو کتاب يې د حضرت زهرا(س) په هکله ليکلے دے چې د دې کتابونو مطلبونه د بحارالانوار په وسيله، زمونږ کتابونو ته راغلي دي او تر دې چې منتهی الامال ته هم راغلي دي. نو د دغو کسانو حديثونه په دې طريقه زمونږ کتابونو ته راغلي دي.

د شيعه عالمانو تر منيځ له تير وخته تر اوسه پورې، ډېرو کمو کسانو د حديث داسې خدمت کړے دے لکه څه رنګ چې علامه مجلسي کړے دے. دغو عالمانو چې کوم خدمتونه کړي دي هغه بايد کم ونه ګڼو او مونږ چې څه لرو له هغوي يې لرو. د شيعو عالمان د يوبل درناوې کوي خو د يو بل تقليد نه کوي. مونږ تقليد نه کوو. مونږ د سيرت، د قران د تفسير، عقيدتي، اخلاقي او ادبي حديثونو په څېړنه کښې همداسې څېړنې ته اړمن يو چې کومه څېړنه زمونږ عالمانو د فقهي حديثونو په هکله کړې ده. اوس د تيرو عالمانو د مزبوت کارې يوه بيلګه بيانوو.

د حديثونو په نقلولو او ليکلو کښې د شيعه د زيرتيا يوه بيلګه

له هغه عالمانو چې په حديث کښې يې کار کړے دے او ما يوازې هغوي په خپله ليدلي دي، يو زما نيکه خاتم المحدثين آقا ميرزا محمد شريف عسکری تهرانی و چې د آيت اللّه العظمی ميرزا حسن شيرازی (د تماکو د حراميدو فتوا چې يې ورکړې وه) او د سامرا دريم عالم و. آقا ميرزا محمد تهرانی، مستدرك بحار ليکلے و چې يوازې اجازت نامې يې پينځه ټوکه وې چې مرحوم شيخ آقا بزرګ تهرانی او مرحوم آقا سيد محسن امين عاملی د اجازات له کتابه په خپلو کتابونو کښې له هغې ګټه اخستې ده. د بحار د اجازتونو کتاب هم پينځه ټوکه دے زه په هغو کښې د دوو اجازتونو ځينې برخې دلته راوړم چې وګورئ چې

زمونږ عالمان د حدیث په لیکلو او نقلولو کښې څنګه وو. دا هغه دوه اجازې دي چې ما هغه د القرآن الکریم و روایات المدرستین کتاب کښې له اجازات البحار الانوار نقل کړي دي، هلته په خپله د علامه مجلسي په خط چاپ شوي دي.

۱. د شیخ فخرالدین محمد چې فرزند علامه حِلی زوې و (وفات کال یې ۷۷۱ هجری) شیخ محسن بن مظاهر ته په اجازې کښې داسې راغلي دي:

(و أجزتُ له ایضاً أن یَرْوِيَ عنّي مصنفات الشیخ أبیجعفر محمد بن الحسن الطوسي و من ذلك کتاب تهذیب الاحکام فإني قرأته[1] علی والدي درسا بعد درس و تمت قراءته فی جرجان سنة اثني عشر و سبعمائة، عنّي عن والدي ثم والدي قرأه علی والده أبیالمظفر یوسف بن علي و أجاز له روایته ثم یوسف المذکور قرأه علی الشیخ معمّر بن هبة اللّه بن نافع الوراق و أجاز له روایته ثم الفقیه معمّر المذکور قرأه علی الفقیه أبیجعفر محمد بن شهرآشوب و أجاز له روایته ثم شهرآشوب قرأه علی مصنفه أبیجعفر محمد بن الحسن الطوسي و قرأه جدّي مرة ثانیة.)

ګورو چې شیخ فخرالدین محمد، دا کتاب په دوو طریقو (یو بل پسې درسونو کښې) تر دې چې تر لیکوال راورسي اجازت ورکړے دے یعنی کتاب یې دوه ځله خپل استاد ته لوستې دے او هر یو استاذ یې خپل استاذ ته لوستې دے تر دې چې لیکوال ته رارسیدلے دے.

۲. او یو بل روایت هغه مرحوم مجلسي د کافي کتاب لپاره اجازه ده چې دلته یې راوړو. د کافي کتاب دا نسخه د امام رضا علیه السلام د مزار په کتابتون کښې پرته ده زهٔ تاسو ته د دې اجازې یوه برخه وړاندې کوم:

تصحیحا و تدقیقا و ضبطا في مجالس آخرها خامس عشر شهر جمادی الأولی

[1]. قراءة په دې معنی دے چې یو لفظ او د هغې معنی له استاذه زده کړې. د لا ډېر خبرتیا لپاره وګورئ القرآن الکریم و روایات المدرستین کتاب، ۱ټوک، ۲۸۲-۲۹۹مخونه، لومړی چاپ، ۱۴۱۵ هجری.

من شهور سنة ثلاثة و ثلاثون بعد الألف من الهجرة.)
او په يو بل ځای کښې په بلې اجازې کښې فرمايي:
أنهاه المولى الفاضل البارع الذکی الألمعي، مولانا محمد شفيع التويسرکاني، سماعا تصحيحا تدقيقا ضبطا في مجالس آخرها بعض أيام شهر ذی‌القعدة سنة ثلاث و ثمانين بعد الألف من الهجرة.
يعنی لکه څه رنګ چې کافي کتاب به يې تر هر ځای پورې لوسته، اجازت ورکوونکي استاذ به د هغه کتاب په حاشيه کښې هغه ته اجازت ليکل. بيا فرمايي:
أجزت له ـ دام تأييده ـ أن يروي عنّي کلّ ما صحت لي روايته و إجازته بأسانيدي المتصلة إلى أصحاب العصمة....
روايتي اجازت زمونږ د عالمانو په نزد، د نن سبا د اجتهاد د اجازت په شان ده. داسې نه وه چې (يو له هغوي زۀ يم چې له شيخانو: مرحوم شيخ اقابزرګ تهراني او زما نيکه مرحوم له خوا د روايت کولو اجازت لرم او کله کله هم د روايت کولو اجازت ورکوم)، يو کلي عبارت سره ووايي «أجزت له أن يروی عنی ما صحت لی روايته.» نه؛ بلکې څه چې د اجازت ورکونکي په وړاندې صحيح ولوستل شي نو د هغې په هکله به يې ويل چې ما د دې اجازت درکړ (او دا اجازت مې د پلانکي او پلانکي له لارې درکړ تر دې چې د کتاب ليکونکي ته به ورسيد.)
زمونږ د عالمانو د روايت په علم کښې دا طريقه په تيرو وختونو کښې وه؛ خو له کله راهسې چې د اخباريانو او اصوليانو تر مينځ شخړې رامينځته شوې نو زمونږ ډېر کار دا شوے دے چې په فقهي حديثونو کښې غور وکړو. او حديثونه هماغه شان چې پکار دي خپل استاد ته نه لولو او له خپل استاذه يې نه روايتوو او زمونږ تر مينځ اجازت ورکول د هغه وړاندې وخت غوندې نه دي پاتې.
خو څۀ چې مې د خليفه ګانو په مذهب کښې ليدلي دي، د هغې يوه بيلګه بيانوم: د اهل سنتو په يوې سرچينې کښې راغلي وو چې د هغوي يو عالم (د علم د

خاوندانو په کور کښې)، یو ماشوم په ځانګو کښې ولید. ویې ویل: "ویریږم چې دا ماشوم زما درس ته راونه رسي! نو زهٔ دې ماشوم ته اجازت ورکوم چې له ما روایت وکړي".[1]

نو دې ته په پام، لکه څه رنګ چې ګورو د خلیفه ګانو د مذهب د روایت د نقلولو طریقه د اهلبیتو علیهم السلام له مذهبه ډېره جدا ده.

۱. القرآن الکریم و روایات المدرستین، ۱ټوک، ۳۱۳مخ.